﴿ وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ﴾ [البقره: 186 ]

[ او کله چې زما بنده ګان زما په اړه درنه پوښتنه وکړي (نو ورته ووایه) ، یقینًا زه (ورته) نږدې   یم، د دعا کوونکي دعا قبلوم کله چې له ما نه دعا غواړي، پس دوی دې زما حکم ومني، او پر ما د ایمان راوړي، د دې لپاره چې سمه لار ومومي. ]

# مسنونې دعاګانې

Ketabton.com

له هر ډول دنیوي او اخروي ، فتنو او بدبختیو نه د نجات او هر ډول ښیګڼو او نیکبختیو ته د رسیدو  په زړه پورې مسنونه دعاګانې

شیخ د. سعید بن علي بن وهب القحطاني رحمه الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الدعا من الكتاب و السنة

إِنَّ الحمدلله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيّئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضّل له، ومن يضلل فلاهادي له، وأشهد أن لاإله إلاالله وحده لا شريك له، وأشهد أنّ محمّداً عبده ورسوله. فَاَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيم ، بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ، اما بعد :

الدعا من الكتاب و السنة د مشهور نړیوال متواضع عالم د . سعيد بن علي بن وهب القحطاني رحمه الله په ګوتو ليکلى شوي مبارکه رساله ده . دغه ارزښتناکه رساله په هغو زړه راښکونکو اذکارو او دعاګانو مشتمله ده چه د الله رب العزت په خواږه کلام قرآن کريم او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مبارکو صحيحو احاديثو کې يې يادونه شوې ، دا دعاوې په حقيقت کې د الله عزوجل د قدرمنو رسولانو په ژبو جاري شوي مبارک الفاظ دي چه له خپل رب سره يې پرې راز او نياز کړى ، د الله رب العزت په درګاه کې د خوښې او قبوليت جوګه شوي او زمونږ رب د رسول الله صلى الله عليه وسلم له امت سره د مينه پار هغه مبارک ته وحي کړي او پوره امانتدارى تر مونږه رارسيدلي ، په دې دعا ګانو کې له الله رب العزت نه د دنيا او آخرت ، له ټولو بديو او بدبختيو نه د پناه او ټولو ښيګنو او نيکبختيو ته د رسيدو يادونه شوې ، دې کوچنى رساله کې د هغو مبارکو دعاګانو يادونه هم شوې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم "اسم اعظم " ورته ويلي او په ويلو يې د بنده هر ډول دعا قبليږي .

د حج او عمرې فريضه له خپل رب سره د راز او نياز بهترينه موقع وي ، د شپې د تهجدو لمونځونو د رکعتونو ترمنځ وقفې، په طوافونو کې د بيت الله له ښکلې منظر سره خوا کې ، د صفا او مروه په تګ و راتګ کې داسې دعا ګانو ته ستر ضرورت احساسيږي ، له نيکه مرغه دغه مبارکې دعاګانې راته يو مسلمان ورور د عمرې په مبارک سفر کې ډالۍ کړې ، لدې دعا ګانو سره مې الحمد لله د عمرې سفر له خوندونو او خاطرو ډک وو همدلته مې له ځان سره فيصله وکړه چه دا دعا ګانې به ان شاالله پښتو ته ژباړم او له خپلو ګرانو وطنوالو سره به يې شريکوم .

دا چه دعا په معنا پوهيدل د توجه ، حضور ، خشوع او قبليدو لپاره اړين وي نو د همدې لپاره له دعا وو سره پښتو ژباړه هم ليکل شوې . دغه دعا ګانې په ناسته ، ولاړه ، سفر ، شپه ، ورځ ... هر ځاى او وخت کې لوستل کيدى شي ، که په هغو وختونو او ځايونو کې چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مبارکو احاديثو کې يې يادونه شوې ولوستل شي نو د قبليدو او اجر امکانات به يې لا نور هم پسې زيات شي .

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د حديث مطلب دى چه که کوم مسلمان د يوه نيک کار په خپرولو کې ونډه واخلې الله عزوجل به يې د جوړونکي هومره اجر ورکړي ، له خپلو مسلمانو ورونو خويندو مې هيله ده چه ددې عظيمو دعا ګانو په خپرولو کې که هغه په سافټ شکل (انټرنيټي صفحاتو ، مبايلونو ، کمپيوټرونو ..) او که په چاپي شکل وي برخه واخلې له يوې خوا به مو ګرانو وطنوالو ته دغه ارزښتناکې دعا ګانې ورسيږي له بلې خوا به مو د خپل رب رضايت او ستر اجر ترلاسه کړى وي .

الله د مونږ او تاسو ټولو ته د خپلې رښتيني بنده ګى توفيق ، له فتنو نه د نجات عزتمند ژوند ، او د مؤمنانو مرګ نصيب کړي ، الله د مونږ د قيامت په ورځ په هغه ټولې کې راپاځوي له کوم نه چه راضي وي . آمين

نصرت الله امين

کابل افغانستان (۱۴۰۰/٦/۲۲ ه ش)

برېښناليک : pakhtotafseer.quran@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دعا او اذکار

دعا له الله جل جلاله سره د انسانانو د ارتباط له مهمو وسايلو شميرل کيږي ، له الله سره نږديوالی او راز و نياز د هر عبادت روح ګڼل کيږي . دعا هغه وخت قبليدو ته نږدې کيږي چه ايمان او اخلاص ورسره مل وي او دعا کونکی د الله د اوامرو منونکی جوړ شي او زړه له تله د خپلې دعا په قبليدو باور ولري . د هر چا دعا ، په هر ځای ، هر وخت او زمان کې چه الله وغواړي قبليږي .

که د دعا مسله ته لږ ځير شو نو څرګنده به شي چه ټول موجودات له الله جل جلاله سره راز او نياز لري او خپلې غوښتنې ترې غواړي . الله جل جلاله په قرآن کريم کې فرمايي :

﴿ يَسْأَلُهُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ .... ﴾ سوره رحمن، آية: 29.

**[ په اسمانونو او ځمکو کې چه هر څوک دي ، خپلې اړتياوې له همغه (الله) څخه غواړي ...]**

هيڅ مسلمان د دعا له رواني ، اجتماعي او تربيتي اغيزو بې خبره نه دی ځکه انسان د خپلې ارادې د قوي کولو او د خپلو پريشانيو د لرې کولو لپاره يوه قوي ملاتړ ته ضرورت لري تر څو ورسره مرسته وکړي چه هغه هماغه د الله پاک مهربانه ذات دی . دعا د انسان په زړه کې د هيلو ډيوې بلوي . انسان د دعا او اذکارو په واسطه د الله د فيوضاتو د ترلاسته کولو لا زياته وړتيا لاس ته راوړي او زړه او روح يې له خپل رب سره نږدې اړيکه پيدا کوي .

## د ذکر او دعا اهميت او فضايل :

د ذکر او دعا د فضائلو او اهميت په اړه په قرآن کريم او مبارکو احاديثو کې ډيره يادَونه شوې دلته به د هغو له جملې څو نمونې د لوستونکو لپاره وړاندې کړو .

الله جل جلاله په خپل مبارک کلام کې فرمايي :

﴿ بُيُوتٍ أَذِنَ ٱللَّهُ أَن تُرۡفَعَ وَيُذۡكَرَ فِيهَا ٱسۡمُهُۥ يُسَبِّحُ لَهُۥ فِيهَا بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ ۝ رِجَالٞ لَّا تُلۡهِيهِمۡ تِجَٰرَةٞ وَلَا بَيۡعٌ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءِ ٱلزَّكَوٰةِ يَخَافُونَ يَوۡمٗا تَتَقَلَّبُ فِيهِ ٱلۡقُلُوبُ وَٱلۡأَبۡصَٰرُ ۝ لِيَجۡزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحۡسَنَ مَا عَمِلُواْ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضۡلِهِۦۗ وَٱللَّهُ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ﴾ النور 38-36

**[په هغو کورونو (جوماتونو) کې چې الله حکم کړی دی چې پورته دې کړل شي او په دغو کې دې د ده نوم ياد شي او په دغو (جوماتونو) کې د هغه پاکي بيانوي، د ورځې په شروع کې او د ورځې په اخر کې . (داسې) سړي چې د الله له ذکر او لمونځ قايمولو او د زکات اداکولو نه يې نه تجارت غافله کوي او نه اخيستل خرڅول، دوی له هغې ورځې نه ويرېږي چې په هغې کې به زړونه او سترګې اوړي راوړي . د دې لپاره چې الله دوی ته بدله ورکړي ډېره ښکلې بدله د هغو عملونو چې دوی کړي دي او دوی ته له خپل فضله اضافه وکړي او الله چا ته چې وغواړي، بې له حسابه رزق ورکوي .]**

همدارنګه الله رب العزت فرمايي :

﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُواْ لِي وَلْيُؤْمِنُواْ بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ﴾ بقره: 186

**(او کله چې زما بنده ګان زما په اړه درنه پوښتنه وکړي (نو ورته ووايه) ، يقينًا زه (ورته)نږدې يم، د دعا کوونکي دعا قبلوم کله چې له ما نه دعا غواړي، پس دوی دې زما حکم ومني، او پر ما دې ايمان راوړي، د دې لپاره چې سمه لار ومومي) .**

د پورتنی آيت د شان نزول باره کې مفسيرين فرمايي چه د آيت له هغه وروسته نازل شو کله چه يوه صحابي له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه وپوښتل چه که الله لرې وي په لوړ آواز ترې دعا وغواړو ، نو الله مسلمانان يې پوهه کړل چه الله تاسو ته نږدې دی نو په ورو ترې دعا وغواړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د دعا په اړه ډیر احادیث نقل شوي د هغو له جملې نه امام ترمذی له حضرت انس رضی الله عنه نه نقل کوي چه فرمايي : «**الدعاء مخ العبادة**». **( دعا د عبادت مغز دی )** . له نعمان بن بشیر رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي : «**الدعاء هو العبادة**». **(دعا هماغه عبادت دی .)** له حضرت علی رضی الله عنه نه پدې الفاظو روایت دی«**الدعاء سلاح المؤمن وعماد الدين ونور السماوات والأرض**»**(دعا د مؤمن وسله،د دین ستون او د اسمانونو او ځمکو رڼایي ده )** .همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايی: «**أَلاَ أُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرِ أَعْمَالِكُمْ، وَأَزْكَاهَا عِنْدَ مَلِيكِكُمْ، وَأَرْفَعِهَا فِي دَرَجَاتِكُمْ، وَخَيْرٍ لَكُمْ مِنْ إِنْفَاقِ الذَّهَبِ وَالْوَرِقِ، وَخَيْرٍ لَكُمْ مِنْ أَنْ تَلْقَوْا عَدُوَّكُمْ فَتَضْرِبُوا أَعْنَاقَهُمْ وَيَضْرِبُوا أَعْنَاقَكُمْ؟ قَالُوا بَلَى. قَالَ: ذِكْرُ اللهِ تَعَالَى»(1).**

**(آیا تاسو له تر ټولو ښه عمل څخه خبر نه کړم ، چه څښتن ته مو تر ټولو سپیڅلی دی ، له هر څه نه زیات ستاسو د درجو لوړونکی دی ، او تاسو لپاره د سرو او سپینو زرو د خیرات له ورکړې نه ډیر اجر لري ، او تاسو ته لدې هم بهتره دی چه له دښمن سره مخامخ شی تاسو د هغوی غاړې ووهی او یا هغوی ستاسو غاړې ووهي ؟ (صحابه کرامو) وویل : هو ( هغه عمل راته وښایه ) ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایل : هغه د الله تعالی ذکر دی .**

رسول الله ﷺ د دعا په اړه فرمايلی : ((**لَيسَ شَيْءٌ أَكْرَمَ عَلَى اللهِ تَعَالَى مِنَ الدُّعَاءِ**)) ترمذی باب الدعوات .

**د الله په نزد تر دعا بل عزتمند څه نشته .**

هر مسلمان باید د خپلې دعا د قبلیدو په اړه له الله نه هیله او امید ولري او پدې باور ولري چه الله ډیر مهربانه د سترو خزانو څښتن او سخي ذات دی .

رسول الله ﷺ فرمايلي :

((**إِنَّ رَبَّكُمْ تَبَارَكَ وَتَعَالَى حَيِيٌّ كَرِيمٌ يَسْتَحْيِي مِنْ عَبْدِهِ إِذَا رَفَعَ يَدَيْهِ إِلَيْهِ أَنْ يَرُدَّهُمَا صِفْراً [خَائِبَتَيْنِ]**))

**په تحقیق سره ستاسو رب حیاناکه او ډیر سخي ذات دی ، کله چه یو بنده ورته د دعا لپاره دواړه لاسونه اوچت کړي لدې نه يې حیا راځي چه بیرته يې ورته خالي واپس کړي .**

دعا د تقدیر او برخلیک د بدلون سبب ګرځي :

رسول الله ﷺ فرمايلي : ((**لاَ يَرُدُّ الْقَضَاءَ إِلاَّ الدُّعَاءُ، وَلاَ يَزِيدُ فِي الْعُمُرِ إِلاَّ الْبِرُّ**))

**هیڅ څه قضا او برخلیک نه راګرځوي مګر دعا . او هیڅ څه په عمر کې زیاتوالی نه راولي مګر نیکي .**

## د دعا د قبلیدو شرایط :

دعا کونکی باید دا عقیده ولري چه د دعا قبلونکی یواځې د الله قادر ذات دی چه شریک نه لري ، دعا کونکی باید د دعا په وخت کې خپل نیت صفا کړي ، د زړه له تله په پوره توجه سره دعا وغواړي ځکه الله د غافل زړه دعا نه قبلوي ، همدارنګه دعا کونکي ته اړینه ده چه خپل خوراک له حلالو وګرځوي . ددې ترڅنګ باید دعا کونکی د خپلې دعا د قبولیت په اړه له عجلې کار وانخلي او نااميده نه شي . رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه مبارک حدیث کې فرمايي :

عن أبي هريرة ﷺ أن رسول الله ﷺ قال: «**تستجاب لأحدكم ما لم يعجل يقول: قد دعوت ربي فلم يستجب لي**»(متفق علیه)

[1] – الترمذي 5/ 459، وابن ماجه 2/ 1245 ونګا: صحیح ابن ماجه 2/ 316 وصحیح الترمذي 3/ 139.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**[ له ابوهريرة رضى الله عنه نه روايت دى چه رسول الله صلى الله وسلم وفرمايل : ستاسو د هر يوه دعا قبليږي تر څو وارخطايي ونکړى هغه داسې چه ووايى : ما له خپل رب نه دعا وغوښته خو راته قبوله يې نه کړه . ] .**

په بل حديث کې راځي چه :

**عن عُبَادَةَ بْنَ الصَّامت ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللَّه ﷺ قَالَ: «مَا عَلَى الأَرْض مُسْلمٌ يَدْعُو اللَّهَ بدَعْوَة إلاَّ آتَاهُ اللَّهُ إيَّاهَا أَوْ صَرَفَ عَنْهُ منَ السُّوء مثْلَهَا مَا لَمْ يَدْعُ بمَأْثَم أَوْ قَطيعَة رَحم». فَقَالَ رَجُلٌ منَ الْقَوْم: إذًا نُكْثرَ. قَالَ: «اللَّهُ أَكْثَرُ». رواه الترمذي وقال: حديث حسن. ورواه الحاكم من رواية أبي سعيد وزاد فيه: «أو يُدَخِّرُ له من الأجر مثلها».**

**[ له حضرت عبادة بن ثابت رضى الله عنه نه روايت دى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : د ځمکې پر مخ به داسې مسلمان نه وي چه الله جل جلاله نه يوه دعا وغواړي مگر دا چه الله يې قبوله کړي ، يا ترينه همداسې يوه بدي لرې کړي ، پدې شرط چه په دعا کې يې هدف گناه او يا د خپلوى پريکون نه وي . نو د يوه قوم سړي وويل چه داسې ده نو ډيرې دعاوې به غواړو ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل : چه د الله احسان ستاسو له دعاوو نه ډير دى . د حاکم په روايت کې ورسره زياتوي چه (همداسې يوه ښيگڼه به ورته د قيامت د ورځې لپاره ذخيره کړي ) ]**

## هغه وختونه چه دعا پکې ډيره قبليږي :

هغه وختونه چه دعا پکې ډيره قبليږي او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مبارکو احاديثو کې يادونه شوې په دې ډول دي . د سحري وخت (د شپه وروستى برخه)[1] ، له فرض لمانځه نه وروسته [2] ، د آذان او اقامت ترمنځ وخت [3]، د سجده په حالت کې [4] ، د جمعه د ورځې په مازديگر کې [5] ، د قدر په شپه کې [6]، د زمزم د اوبو د څښاک په وخت کې [7] ، د عرفه په ورځې(د ذالحجه په نهمه نيټه) [8] ، د چرگ د بانگ په وخت کې [9]، د روژې مبارکې په ټوله مياشت کې [10] له دښمن سره د مخامخ کيدو او آذان په وختونو کې [11] د باران وريدو په وخت کې [12] د مريض او يا مري سره خوا کې [13] د لمر د زايله کيدو نه وروسته او له ماسپښين نه مخکې[14]....

---

1 : البخارى : 1145 و 7494

2 : الترمذى : 3499

3 : الترمذى : 212 و 3594

4 : مسلم : 482

5 : مسلم : 852

**6**: بخارى : 2009

**7** :ابن ماجه : 3062

**8** : الترمذى : 3585

**9** : بخارى : 3303

**10** : صحيح الجامع 3030

**11** : ابوداوود : 2540

**12** : حاكم في المستدرک برقم : 2534

**13** : مسلم : 919

**14** : ترمذى : 478

(c) ketabton.com: The Digital Library

أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيم

1. ﴿بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ۞ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ۞ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ۞ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ۞ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۞ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ۞ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ﴾ (الفاتحه ۱-۷)

**ژباړه** : د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان، پوره رحم لرونکی دی. ټوله ثنا او ستاینه یواځې الله لره ده، چه د ټولو کایناتو پالونکی دی . ډیر زیات مهربان ، پوره رحم لرونکی دی . د جزا د ورځې مالک دی . مونږ همدا ستا عبادت کوو او هم دا ستا څخه مرسته غواړو. مونږ ته سمه لاره وښایه ؛ د هغو کسانو لار چه تا پرې پیرزوینه کړیده ، چه غوسه پرې نه ده شوې او بې لارې شوي نه دي.

2. ﴿رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾ (البقرة – ۱۲۷)

**ژباړه :** زمونږ ربه ، زمونږ نه مو نیک عملونه قبول کړه په یقینی ډول ته اوریدونکی او پوهه ذات یې .

3. ﴿وَتُبْ عَلَيْنَآ إِنَّكَ أَنتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ﴾ (البقرة – ۱۲۸)

**ژباړه :** او زمونږ توبه قبوله کړه په یقیني ډول ته توبه قبلوونکی او مهربانه ذات یې .

4. ﴿رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾ (البقرة - ۲۰۱)

**ژباړه :** ای زمونږ ربه ؛ مونږ ته د دنیا او هم د آخرت ښیګڼې را په برخه کړه او مونږ د اور له عذابه وساته .

5. ﴿ رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ﴾ (البقرة – ۲۵۰)

**ژباړه :** ای زمونږ ربه ؛ مونږ ته صبر راکړه ، زمونږ قدمونه ټینګ کړه او پدې کافري ډلې مونږ برلاسي کړه .

6. ﴿سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ﴾ (البقرة – ۲۸۵)

**ژباړه :** مونږ حکم واوریدی او اطاعت مو ومانه . زمونږ څښتنه ! موږ ستا څخه د ګناه د ښښنې غوښتونکې یوو او همدا ستا لوري ته زموږ درتګ دی .

7. ﴿رَبَّنَا لاَ تُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلاَ تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلاَ تُحَمِّلْنَا مَا لاَ طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَآ أَنتَ مَوْلاَنَا فَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ﴾ (البقرة – ۲۸۶)

**ژباړه :** ای زمونږ ربه !که له مونږ څخه څه هیره او خطا وشي ، مونږ پرې مه نیسه . زمونږ ربه ! په مونږ هغه پیټی مه ږده چه له زمونږ څخه د په مخکینو خلکو ایښی وو، زمونږ ربه ، په مونږ هغه پیټی مه ږده د کوم چه د پورته کولو وس نه لرو . مونږ سره اساني وکړه ، مونږ ته ښښنه وکړه ، رحم را باندې وکړه ، ته زمونږ کار جوړونکی یی ،د کافرانو په مقابل کې زمونږ مرسته وکړه .

8. ﴿رَبَّنَا لاَ تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ﴾ (آل عمران – ۸)

**ژباړه :** ای زمونږ ربه ؛ کله چه تا په سمه لاره روان کړي یو ، نو بیا مو هیڅکله زړونه مه کږوه ، مونږ ته د خپلې پیرزوینې له زیرمې څخه رحمت را په برخه کړه ، چه همدا ته بهترین لوروونکی یې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

9. ﴿رَبَّنَا إِنَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾ (آل عمران - ۱۶)

**ژباړه :** ای زمونږ ربه ؛ مونږ ایمان راوړی ، زمونږ له ګناهونو څخه راتیر شه او مونږ د دوزخ له اوره وژغوره .

10. ﴿اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ (آل عمران - ۲۶)

**ژباړه :** یا الله ! د ملک مالکه ! ستا چه چا ته خوښه شي حکومت ورکوي او له چا څخه چه وغواړي اخلي يې ، چا ته د چه خوښه شي عزت ورکوي او څوک چه وغواړي ذلیله کوي يې ، ښیګڼه ستا په واک کې ده ، بیشکه ته په هر څه قادر يې .

11. ﴿رَبِّ هَبْ لِي مِن لَّدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَاءِ﴾ (آل عمران - ۳۸)

**ژباړه :** ای زما ربه! ما ته له خپلي خوا نه ښه پاکیزه اولاد راکړه، یقینًا ته د دعا ښه اوریدونکی يې .

12. ﴿رَبَّنَا آمَنَّا بِمَا أَنزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُولَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ﴾ (آل عمران - ۵۳)

**ژباړه :** ای زمونږ څښتنه ؛ کوم فرمان چه تا رالیږلی دی ، مونږ هغه منلی او د پیغمبر پیروي مو قبوله کړې ده ؛ نو زمونږ نوم په شاهدي ویوونکو کې ولیکه .

13. ﴿رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِي أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ﴾ (آل عمران - ۱۴۷)

**ژباړه :** ای زمونږ څښتنه ؛ زموږ ګناهونه او زموږ په کار کې زمونږ تیری راوبښه .زمونږ قدمونه محکم کړه او پر کافرانو زموږ د برلاسی لپاره راسره مرسته وکړه.

14. ﴿حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ﴾ (آل عمران - ۱۷۳)

**ژباړه :** زمونږ لپاره الله کافي دی ، او هغه ډیر ښه کار جوړونکی دی .

15. ﴿رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذا بَاطِلاً سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ۞ رَبَّنَا إِنَّكَ مَن تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ۞ رَّبَّنَا إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُنَادِي لِلإِيمَانِ أَنْ آمِنُواْ بِرَبِّكُمْ فَآمَنَّا رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الأبْرَارِ ۞ رَبَّنَا وَآتِنَا مَا وَعَدتَّنَا عَلَى رُسُلِكَ وَلاَ تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّكَ لاَ تُخْلِفُ الْمِيعَادَ﴾ (آل عمران،۱۹۱-۱۹۴)

**ژباړه :** ای زمونږ ربه ! دا ټول شیان تا بابیزه او بې مقصده ندي پیدا کړي ، ته لدې نه پاک يې چه عبث کار وکړې ؛ نو اې ربه ! مونږ د جهنم له عذابه وژغوره ؛ زمونږ ربه ! تا چه څوک په جهنم کې واچوه، هغه د په حقیقت کې په ستره خوارئ او رسوائی کې وغورځوه ، او بیا به ددغه راز ظالمانو هیڅوک مرستندوی نه وي ؛ لویه څښتنه ! مونږ د یوه ناري وهونکی (پیغمبر) اواز واورید چه د ایمان لوري ته يې بلنه ورکوله او ویل يې چه خپل رب ومنئ . مونږ د هغه بلنه ومنله ، نو ای زمونږ ربه ! کومه ګناه چه له مونږ نه شویده له هغې نه راتیر شه ؛ کومې بدی چه په مونږ کې دي هغه رانه ایسته کړه او په پای کې راته د غوره خلکو ملګرتیا را په برخه کړه ؛ زمونږ پالونکینه ! کومې وعدې چه تا د خپلو رسولانو په وسیله راسره کړیدې ، هغه له مونږ سره ترسره کړه او د قیامت په ورځ مونږ له رسوائی سره مه مخامخ کوه ، پدې کې شک نشته چه ته له خپلو وعدو څخه مخالفت کوونکی نه يې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

16. ﴿رَبَّنَا آمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ ۞ وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَمَا جَاءَنَا مِنَ الْحَقِّ وَنَطْمَعُ أَنْ يُدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصَّالِحِينَ﴾ (المائدة-٨٣-٨٤)

**ژباړه**: پروردگاره ! مونږ ایمان راوړ، زمونږ نوم په شاهدي ویونکو کي ولیکه . ښه نو ولي مونږ په الله ایمان رانه وړو ، او کوم حق چه مونږ ته راغلی دی ، هغه ولي و نه منو ، پداسي حال کي چه مونږ ددې خبرې هیله من یو چه زمونږ رب دې مونږ په صالحانو کي حساب کړي .

17. ﴿رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾ (الأعراف-٢٣)

**ژباړه**: ای زمونږ ربه ؛ مونږ په خپلو ځانونو ظلم کړی ، که ته مونږ و نه ښښي او پر مونږ رحم و نه کړې ، نو مونږ به هرومرو د تاوانیانو له ډلي شو.

18. ﴿ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي هَدَانَا لِهَذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَا أَنْ هَدَانَا اللَّهُ﴾ (الأعراف-٤٣)

**ژباړه**: ثنا او ستاینه الله ته ده چه مونږ ته یي دا لاره وښووله، مونږ خپله لاره نشوه موندلای که الله مونږ ته لارښوونه وای کړې .

19. ﴿رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ﴾ (الأعراف-٤٧)

**ژباړه**: ای زمونږ ربه ؛ مونږ له ظالم قوم سره مه یوځای کوه .

20. ﴿ سُبْحَانَكَ تُبْتُ إِلَيْكَ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُؤْمِنِينَ﴾ (الأعراف-١٤٣)

**ژباړه**: ستا ذات پاک دی ، زه ستا په دربار کي توبه باسم او تر ټولو مخکي ایمان راوړونکی زه یم .

21. ﴿ رَبِّ ٱغْفِرْ لِي وَلِأَخِي وَأَدْخِلْنَا فِي رَحْمَتِكَ وَأَنْتَ أَرْحَمُ ٱلرَّاحِمِينَ﴾ (الاعراف ١٥١)

**ژباړه**: ای زما ربه ! ما او زما ورور ته ښښنه وکړه او موږ په خپل رحمت کي داخل کړه ، ته تر ټولو لوی رحم کوونکی یي .

22. اللَّهُمَّ ﴿ أَنْتَ وَلِيُّنَا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَأَنْتَ خَيْرُ الْغَافِرِينَ ۞ وَاكْتُبْ لَنَا فِي هَذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ﴾ (الأعراف ١٥٥-١٥٦)

**ژباړه**: (یا الله !) زمونږ سرپرست خو همدا ته یي، نو مونږ ته ښښنه وکړه او پر مونږ رحم وکړه، ته تر ټولو لوی ښښونکی یي. او زمونږ لپاره هم ددې دنیا نیکي ولیکه او هم د آخرت .

23. ﴿حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ﴾ (التوبة-١٢٩)

**ژباړه** زما لپاره الله کافي دی،له هغه پرته بل هیڅ معبود نشته،پر هماغه ما توکل کړیدی او هغه د ستر عرش څښتن دی .

24. ﴿رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ۞ وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ﴾ (یونس ٨٥-٨٦)

**ژباړه**: اې زمونږ ربه ! مونږ د ظالمانو لپاره فتنه مه ګرځوه . او په خپل رحمت سره مونږ ته له کافرانو نه نجات راکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

25.﴿رَبِّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَسْأَلَكَ مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ وَإِلاَّ تَغْفِرْ لِي وَتَرْحَمْنِي أَكُن مِّنَ الْخَاسِرِينَ﴾ (هود - ۴۷)

**ژباړه**: ای زما ربه ! زه تا ته له دي څخه پناه در وړم چه هغه څه وغواړم ،چه نه پرې پوهيږم . که ته ماته ببننه ونه کړې او رحم را باندې ونکړې ، نو زه به د تاوانیان (هلاک شويو) له ډولې نه شم .

26.﴿ وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُنْ مِنَ الْجَاهِلِينَ﴾ (يوسف - ۳۳)

**ژباړه**: او كه ته د هغو دسیسې زما څخه دفع نه کړې ، نو زه به د هغوی په دام کې ونښلم او په ناپوهانو کې به شامل شم.

27.اللَّهُمَّ يَا﴿فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ أَنْتَ وَلِيِّي فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ تَوَفَّنِي مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ﴾ (يوسف - ۱۰۱)

**ژباړه**: ( يا الله )! د اسمانونو او ځمکې هستوونکيه ! همدا ته زما په دنيا او آخرت کې سرپرست يې ، زما خاتمه په اسلام باندې وګرځوه او په پای کې ما له صالحانو سره يو ځای کړه .

28.﴿رَبِّ اجْعَلْ هَذَا الْبَلَدَ آمِنًا وَاجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَن نَّعْبُدَ الأَصْنَامَ﴾ (ابراهيم - ۳۵)

**ژباړه**: پروردګاره ! دا ښار د امن ښار وګرځوه او ما او زما اولاد له بت پرستی څخه وساته .

29.﴿رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلاَةِ وَمِن ذُرِّيَّتِي رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاءِ ﴾ (ابراهيم - ۴۰)

**ژباړه**: زما ربه ؛ ما د لمانځه قايمونکی وګرځوه او زما له اولاد څخه هم (داسې خلک راپورته کړه چه دغه عبادت ادا کړي ) زمونږ ربه ! دعا مې قبوله کړه .

30.﴿رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ﴾ (ابراهيم - ۴۱)

**ژباړه**: زمونږ ربه ! ما، زما مور، پلار او ټولو مؤمنانو ته د حساب په ورځ ببننه وکړه .

31.﴿رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا﴾ (اسرأ- ۲۴)

**ژباړه**: پروردګاره ! په دوی ( مور او پلار مې )رحم وکړه ، لکه څنګه چه دوی له زړه سوي او خواخوږی سره په ماشومتوب کې زه پاللی وم .

32.﴿ رَبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ وَاجْعَل لِي مِنْ لَدُنْكَ سُلْطَانًا نَصِيرًا﴾ (اسرأ- ۸۰)

**ژباړه**: پروردګاره ! ما چه چيرته بيايې له رېښتينولی سره مې بوځه او له هر ځايه مې چه مې باسې له رېښتينولی سره مې وباسه ، او له خپل لوري څخه يو قدرت زما مرستندوی وګرځوه .

33.﴿رَبَّنَا آتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا﴾ (الكهف - ۱۰)

**ژباړه**: زمونږ ربه ! مونږ ته د له خپل طرف نه رحمت ( استقامت ) را په برخه کړه او په خپل کار کې مو برياليتوب ته ورسوه .

34.﴿رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي ۞ وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي ۞ وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي ۞ يَفْقَهُوا قَوْلِي﴾ (طه ۲۵-۲۸)

**ژباړه**: زما پالونکيه ! زما سينه راته پرانيزه ، او زما کار ما ته اسانه کړه ، او زما د ژبې غوټه ما ته وسپړه ، تر څو چه خلک زما په خبره وپوهيدلای شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

35.﴿رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا﴾ (طه - ١١٤)

**ژباړه**: ای زما ربه ؛ زما پوهه زیاته کړه .

36.رَبِّ ﴿ أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ﴾ (الأنبياء - ٨٣)

**ژباړه**: (ای ربه) زه ناروغ یم او ته د ټولو مهربانانو نه مهربانه یې .

37.﴿لا إِلَهَ إِلا أَنتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ الظَّالِمِينَ﴾ (الأنبياء - ٨٧) (الترمذي، برقم ٣٥٠٥، والحاكم، وصححه ووافقه الذهبي، ١/٥٠٥)

**ژباړه**: (ای ربه)په حقه بل معبود نشته مګر همدا ته یې(او بس) یقیناً زه (په خپل ځان باندې) د ظلم کوونکو څخه وم .

38.﴿رَبِّ لا تَذَرْنِي فَرْدًا وَأَنتَ خَيْرُ الْوَارِثِين﴾ (الأنبياء - ٨٩)

**ژباړه**: ای زما ربه ! ما یواځې (بې اولاده) پرینږدې (چه وارث ونه لرم) او تر ټولو غوره وارث خو ته یې .

39.﴿رَبِّ أَنزِلْنِي مُنزَلًا مُّبَارَكًا وَأَنتَ خَيْرُ الْمُنزِلِينَ﴾ (المؤمنون - ٢٩)

**ژباړه**: ای زما ربه ! ما په برکت ناک ځای کې ښکته کړه او ته ډیر ښه ځای ورکونکی یې .

40.﴿رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ ۞ وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَنْ يَحْضُرُونِ﴾ (المؤمنون - ٩٧-٩٨)

**ژباړه**: پروردګاره ! زه د شیطانانو له هڅونو (وسوسو) څخه تا ته پناه دروړم ؛ بلکې ای زما ربه ! زه خو له دې څخه هم پناه غواړم چه هغوی ما ته راشي .

41.﴿رَبَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَأَنتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ﴾ (المؤمنون - ١٠٩)

**ژباړه**: ای زموږ پالونکیه ! مونږ ایمان راوړ ، مونږ ته ښښنه وکړه ، پر مونږ رحم وکړه ، او ته تر ټولو غوره رحم کوونکی یې.

42.﴿رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَأَنتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ﴾ (المؤمنون - ١١٨)

**ژباړه**: ربه ! (ماته) ښښنه وکړه او (په ما)رحم وکړه ، او ته تر ټولو غوره رحم کوونکی یې .

43.﴿رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ۞ إِنَّهَا سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا﴾ (الفرقان، ٦٥-٦٦)

**ژباړه**:زموږ ربه!د دوزخ له عذابه مو وساته چه عذاب یې سخت او همیشنی دی؛هغه ډیر ناکاره استوګنځی او قرار ځای دی.

44. ﴿رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا﴾ (الفرقان -٧٤)

**ژباړه**: ای زموږ ربه ! مونږ ته له خپلو ښځو او اولادونو څخه د سترګو رڼا راکړه او مونږ د پرهیزګارانو امامان کړه (په تقوا او عبادت کې مو تر ټولو مخکې کړه).

45.﴿رَبِّ هَبْ لِي حُكْماً وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ ۞ وَاجْعَل لِّي لِسَانَ صِدْقٍ فِي الآخِرِينَ ۞ وَاجْعَلْنِي مِن وَرَثَةِ جَنَّةِ النَّعِيمِ﴾ (الشعراء ٨٣-٨٥)

**ژباړه**: ای زما ربه ! په ما د حکمت پیرزوینه وکړه ، او ما له نیکانو سره یوځای کړه ، او په وروستیو نسلونو ربښتیا نومیالیتوب را په برخه کړه ؛ او ما له نعمتونو د مالا مال جنت له وارثانو څخه وګرځوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

46. ﴿وَلَا تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ ۞ يَوْمَ لَا يَنفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ ۞ إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ﴾ (الشعراء ۸۷-۸۹)

**ژباړه**: او ما په هغه ورځ مه رسوا کوه کله چه ټول خلک ژوندي راپاځولی شي . کله چه نه مال ګټه رسوي او نه اولاد ، پرته لدې نه چه څوک له سپيڅلي زړه سره الله ته ورغلی وي .

47. ﴿رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَى وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ وَأَدْخِلْنِي بِرَحْمَتِكَ فِي عِبَادِكَ الصَّالِحِينَ﴾ (النمل - ۱۹)

**ژباړه**: ای زما ربه ! ما ته الهام وکړه چه زه ستا د هغې لورينې شکر ګوزار اوسم چه تا پر ما او زما پر مور او پلار باندې کړيده ، او داسې نيک عمل وکړم چه ستا خوښ شي ، او په خپل رحمت سره ما پخپلو صالحو بندګانو کې داخل کړه .

48. ﴿رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي﴾ (القصص - ۱٦)

**ژباړه**: ای زما پروردګاره ! ما په خپل ځان ظلم کړی نو ماته ببښنه وکړه.

49. ﴿رَبِّ نَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ﴾ (القصص - ۲۱)

**ژباړه**: ای زما ربه ! ما له ظالمانو څخه وژغوره .

50. ﴿عَسَى رَبِّي أَن يَهْدِيَنِي سَوَاءَ السَّبِيلِ﴾ (القصص - ۲۲)

**ژباړه**: هيله ده چه زما رب ما په سمه لاره برابر کړي .

51. ﴿رَبِّ إِنِّي لِمَا أَنزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ﴾ (القصص- ۲۴)

**ژباړه**: زما ربه ! ما ته چه له خپلې خوا هره ښيګڼه را استوې زه ورته (سخت) ضرورت لرم .

52. ﴿رَبِّ انصُرْنِي عَلَى الْقَوْمِ الْمُفْسِدِينَ﴾ (العنكبوت - ۳۰)

**ژباړه**: زما ربه ! د مفسدانو په مقابله کې زما ملاتړ وکړه .

53. ﴿رَبِّ هَبْ لِي مِنَ الصَّالِحِينَ﴾ (الصافات - ۱۰۰)

**ژباړه**: زما ربه ! ما ته داسې زوی را کړه چه له نيکي کوونکو څخه وي .

54. رَبِّ ﴿أَنِّي مَسَّنِيَ الشَّيْطَانُ بِنُصْبٍ وَعَذَابٍ﴾ (ص -۴۱)

**ژباړه**: زما ربه! شيطان زه په سخت تکليف کې اچولی يم .

55. ﴿رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَى وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ وَأَصْلِحْ لِي فِي ذُرِّيَّتِي إِنِّي تُبْتُ إِلَيْكَ وَإِنِّي مِنَ الْمُسْلِمِينَ﴾ (الأحقاف - ۱۵)

**ژباړه**: اي زما ربه ! ما ته توفيق راکړه چه زه ستا د هغو نعمتونو شکر ادا کړم چه تا ما ته او زما مور او پلار ته ورکړيدي . او داسې نيک عمل وکړم چه په هغه سره ته راضي کيږي او زما اولاد هم نيکان کړه، زه ستا حضور ته توبه کوم او له فرمان منونکو يعني مسلمانو بندګانو څخه يم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

56. ﴿رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَحْمَةً وَعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِينَ تَابُوا وَاتَّبَعُوا سَبِيلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ ۞ رَبَّنَا وَأَدْخِلْهُمْ جَنَّاتِ عَدْنٍ الَّتِي وَعَدْتَهُمْ وَمَنْ صَلَحَ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۞ وَقِهِمُ السَّيِّئَاتِ وَمَنْ تَقِ السَّيِّئَاتِ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهُ وَذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾ (غافر ۷-۹)

**ژباړه:** اى زمونږ ربه ! ته پخپل رحمت او په خپل علم سره په هر شي باندې خور شوى يې ، نو هغو كسانو ته ببښنه وكړه او د دوزخ له اوره يې وژغوره چه توبه يې ايستلې او ستا لار يې غوره كړې . اى زمونږ ربه ! دوى هغو هميشني جنتونو ته داخل كړه چه تا يې وعده ورسره كړې ، او ددوى له مور ، پلار ، ميرمنو او اولادونو څخه چه څوك صالحان وي (هغوى هم له دوى سره يوځاى هلته بوځه) . بيشكه ته ښه قوي غالب او د حكمت څښتن يې ، او دوى له بديو څخه وژغوره ، تا چه څوك د قيامت د ورځې له بديو نه وژغوره ، پر هغه دې لوى رحم وكړ ، او همدغه ستر برياليتوب دى .

57. ﴿رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾ (الحشر - ١٠)

**ژباړه:** اى زموږ ربه ! مونږ او زمونږ ټولو هغو ورونو ته ببښنه وكړه چه له مونږ نه يې مخكې ايمان راوړيدى ، او زمونږ په زړونو كې د مؤمنانو لپاره هيڅ كينه مه اچوه اى زمونږ ربه ! ته ډير رحم كوونكى يې .

58. ﴿رَبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ۞ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِلَّذِينَ كَفَرُوا وَاغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾ (الممتحنة ۴ - ۵)

**ژباړه:** اى زموږ ربه ! پر تا مونږ توكل وكړ او ستا لورې ته مو رجوع وكړه او همدا ستا حضور ته زمونږ بيا درگرځيدل دي . زموږ ربه ! موږ د كافرانو لپاره فتنه او د ازميښت وسيله مه گرځوه ، او زمونږ ربه ! له گناهونو څخه مو را تير شه ، بيشكه همدا ته برلاسى ، د حكمت څښتن يې .

59. ﴿رَبَّنَا أَتْمِمْ لَنَا نُورَنَا وَاغْفِرْ لَنَا إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ (التحريم - ٨)

**ژباړه** :اى زموږ ربه !زمونږ رڼا زمونږ لپاره بشپړه كړه او مونږ ته ببښنه وكړه ، بى له شكه ته په هر كار برلاسى يې.

60. ﴿رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا تَبَارًا﴾ (نوح - ٢٨)

**ژباړه:** اى زما ربه ! ما ته ، زما مور او پلار ته او هر هغه چا ته چه زما كور ته د مؤمن په حيث داخل شوى ، او ټولو مؤمنانو نارينه او مؤمنو ښځو ته ببښنه وكړه او د ظالمانو لپاره له هلاكت څخه پرته بل څه مه زياتوه .

61. ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۞ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ۞ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ۞ وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ ۞ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ﴾ (الفلق - ١-٥)

**ژباړه:** ووايه : زه د سبا (سهار وختي) په رب پناه غواړم ، د هر هغه څه له شر څخه چه هغه پيدا كړي دي ، او د شپې د تروږمى له شر څخه چه كله هغه خوره شي ، او په غوټو كې د پوكوونكيو (نارينه يا ښځو) له شر څخه ، او د حسد كونكى له شر څخه كله چه هغه حسد وكړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

62.﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۞ مَلِكِ النَّاسِ ۞ إِلَهِ النَّاسِ ۞ مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ۞ الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ ۞ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ﴾ (الناس ، ۱-٦)

**ژباړه**: ووایه : زه د خلکو رب ته پناه وروړم،د خلکو پاچا ته ، د خلکو حقیقي معبود ته ، د هغه وسوسه اچونکي له شر څخه (پناه وړم) چه په وارو وارو ځي راځي ، هغه چه د خلکو په زړونو کې وسوسې اچوي ، که هغه له پیریانو څخه وي یا له انسانانو څخه .

63.﴿اللَّهُمَّ آتِنِي الحِكْمَةَ الَّتِي مَنْ أُوتِيهَا فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا﴾ (مقتبس من سورة البقرة، الآية: ۲٦۹)

**ژباړه**: یا الله ما ته هماغه حکمت او پوهه راکړه کومه چه په چا پیرزو کړې نو هغه باندې به دې ستر خیر پیرزو کړی وي.

64.﴿اللَّهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيلَ وَمِيكَائِيلَ وَإِسْرَافِيلَ فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنَ الحَقِّ بِإِذْنِكَ إِنَّكَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ﴾ (مسلم ۷۷۰)

**ژباړه**: یا الله ! ای د جبریل او میکایل او اسرافیل (علیهم السلام) ربه ، ای د اسمانونو او ځمکې نا آشنا پیدا کونکیه ،په پټو او ښکاره وو پوهیدونکیه ، ته د بندګانو ترمنځ په هغو شیزونو کې چه اختلاف کوي فیصله کوې ، نو په هغو شیزونو کې چه هغوی اختلاف کوي ما د حق طرف ته هدایت کړه ، بې له شکه ستا چه چا ته خوښه شي هغه نیغې لارې ته هدایت کوې .

65.﴿اللَّهُمَّ ثَبِّتْنِي بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَ فِي الْآخِرَةِ﴾ (مقتبس من سورة إبراهيم، الآية: ۲۷)

**ژباړه** : یا الله مونږ ته د ثابتې وینا پر بنسټ په دنیا او آخرت کې ثبات را په برخه کړه .

66.﴿اللَّهُمَّ قِنِي شُحَّ نَفْسِي وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُفْلِحِينَ﴾ (مقتبس من سورة االتغابن، الآية: ١٦)

**ژباړه**:یا الله ته مې د خپل نفس له بخل او حرص نه وژغوره،او(په دنیا او آخرت کې مې)د برى موندوکو له ډلې نه وګرځوه.

67.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ النَّارِ وَعَذَابِ النَّارِ ، وَفِتْنَةِ الْقَبْرِ ، وَعَذَابِ الْقَبْرِ، وَشَرِّ فِتْنَةِ الْغِنَى ، وَشَرِّ فِتْنَةِ الْفَقْرِ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ ، اللَّهُمَّ اغْسِلْ قَلْبِي بِمَاءِ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ ، وَنَقِّ قَلْبِي مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ ، وَبَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ.اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ الْكَسَلِ وَالْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ﴾ (البخاري برقم، ۸۳۲ ومسلم برقم، ٥٨۹)

**ژباړه**: یا الله ! زه درنه له هغو فتنو نه چه (د جهنم ) اور ته د ننوتو سبب کیږي ، او په اور کې د سوځیدو له عذابه ، د قبر په ازمیښت کې د ناکامیدو او د قبر له عذابه ، د مال دارى د فتنې له فساده ، او د غریبى د فتنې له شر نه پناه غواړم . یا الله زه د مسیح دجال د فتنه له شر نه تاته پناه دروړم ، یا الله زما زړه د ګلی او واورو په اوبو ووینځه ، او زما زړه له ګناهونو داسې پاک کړه لکه سپین ټوکر چه له داغونو پاکوې ، او ګناهونه مې دومره رانه لرې کړه لکه مشرق او مغرب د چه له یو بل نه لرې کړې ، یا الله زه تاته له لټې ،ګناه او تاوان نه پناه دروړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

68.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ ، وَالْكَسَلِ ، وَالْجُبْنِ ، وَالْهَرَمِ ، والْبُخْلِ ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ﴾ (البخاري برقم،٢٨٢٣ ومسلم ٢٧٠٦)

**ژباړه**: يا الله ! زه تا نه له ناتوانی او لټی ، او له بزدلی او بوډا والي (له احتياجه) او بخيلی نه پناه غواړم ، او (الله) زه له تا نه د قبر له عذابه او د ژوند او مرگ له فتنه نه پناه غواړم.

69.﴿ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ جَهْدِ الْبَلَاءِ ، وَ دَرَكِ الشَّقَاءِ ، وَ سُوءِ الْقَضَاءِ ، وَ شَمَاتَةِ الْأَعْدَاءِ ﴾ (البخاري-٦٣٤٧ ، و مسلم ٢٧٠٧)

**ژباړه**: يا الله !زه د مصيبتونو له سختی ، بدبختی ته له رسيدو، بد تقدير ، او په حال او ورځ مي د دښمن له خوشالی نه تاته پناه در وړم .

70. ﴿ اللَّهُمَّ أَصْلِحْ لِي دِينِي الَّذِي هُوَ عِصْمَةُ أَمْرِي ، وَأَصْلِحْ لِي دُنْيَايَ الَّتِي فِيهَا مَعَاشِي ، وَأَصْلِحْ لِي آخِرَتِي الَّتِي فِيهَا مَعَادِي ، وَاجْعَلِ الْحَيَاةَ زِيَادَةً لِي فِي كُلِّ خَيْرٍ ، وَاجْعَلِ الْمَوْتَ رَاحَةً لِي مِنْ كُلِّ شَرٍّ﴾ (مسلم برقم ٢٧٢٠)

**ژباړه**: يا الله ! ته مي ديناري جوړه کړه څکه د ديندارى له وجه مي ټول کارونه سمون مومي ، او دنيا مي برابره کړه چه پکي ژوند کوم ، او آخرت مي راته جوړ کړه چه هغه ته مي ورگرځيدل دي ، او ژوند راته د ټولو نيکيو د زياتوالي ذريعه وگرځوه ، او مرگ راته د هر ډول بديو نه د راحت سبب جوړ کړه .

71.﴿ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدَى ، وَالتُّقَى ، وَالْعَفَافَ ، وَالْغِنَى﴾ (أخرجه مسلم برقم ٢٧٢١)

**ژباړه**: يا الله ! له تا نه د هدايت ، پرهيزگارى ، پاک لمنی او غنا (بي پروايي) سوال کوم .

72.﴿ اللَّهُمَّ اهْدِنِي وَسَدِّدْنِي ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدَى وَالسَّدَادَ﴾ (أخرجه مسلم برقم ٢٧٢٥)

**ژباړه**: يا الله!ما ته هدايت وکړه اوپه سيده لار مي روان کړه،يا الله ! له تا نه د هدايت او په نيغه لار د روانيدو سوال کوم .

73. ﴿ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ، وَالْكَسَلِ ، وَالْجُبْنِ ، وَالْبُخْلِ، وَالْهَرَمِ ، وَعَذَابِ الْقَبْرِ ، اللَّهُمَّ آتِ نَفْسِي تَقْوَاهَا ، وَزَكِّهَا أَنْتَ خَيْرُ مَنْ زَكَّاهَا ، أَنْتَ وَلِيُّهَا وَمَوْلَاهَا ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ ، وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ ، وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ ، وَمِنْ دَعْوَةٍ لَا يُسْتَجَابُ لَهَا﴾ (أخرجه مسلم برقم ٢٧٢٢)

**ژباړه**: يا الله ! زه درنه له کمزورى ، لټی ، بي زړه توبه ، بخيلی او بوډاوالي (له احتياج) نه پناه غواړم ، يا الله زما نفس ته تقوی ورکړه او له گناهونو يي پاک کړه يقيناً ته غوره پاکونکی يي ، همدا ته زما د نفس ملگرى او مالک يي ، يا الله زه درنه له هغه علمه چه فايده نه لري ، له هغه زړه نه چه (له تا نه ) ويره ونه لري ، له هغه نفس نه چه مړيږي نه ،او له هغي دعا نه چه قبليږي نه، پناه غواړم .

74.﴿ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِكَ،وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِكَ،وفُجَاءَةِ نِقْمَتِكَ،وَجَمِيعِ سَخَطِكَ﴾ ( مسلم برقم ٢٧٣٩ )

**ژباړه**: يا الله ! زه لدې نه چه نعمتونه د رانه واخيستل شي ، او هغه سلامتيا او عافيت د چه را کړی له لاسه ورکړم،او لدې چه ناڅاپه دې د غصې او غضب لايق وگرځم او( همدارنگه )ستا له هر قهر نه تاته پناه دروړم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

75.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ ، وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ﴾ (أخرجه مسلم برقم ٢٧١٦)

**ژباړه**: يا الله ! زه د خپل کړي عمل له شر نه او د هغه عمل له شر نه چه ما ندی کړی تا ته پناه دروړم .

76.﴿اللَّهُمَّ أَكْثِرْ مَالِي ، وَوَلَدِي،وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَنِي وَأَطِلْ حَيَاتِي عَلَى طَاعَتِكَ ، وَأَحْسِنْ عَمَلِي، وَاغْفِرْ لِي﴾ (البخاري ١٩٨٢)

**ژباړه**: يا الله ! مال او اولاد مې زيات کړه ، او له خپلو نعمتونو دې چه راکړي برکت پکې واچوه ، او ما ته د عبادت کولو لپاره اوږد عمر نصيب کړه ، کړه وړه مې ښکلي کړه ، او ما ته ببښنه وکړه .

77.﴿لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَرَبُّ الْأَرْضِ ، وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ﴾ (البخاري ٦٣٤٥ و مسلم، ٢٧٣٠)

**ژباړه**: نشته حقدار د بنده ګی بې له الله نه چه ډير لوی او حوصله والا ذات دی ، نشته حقدار د بنده ګی بې له الله نه چه د ستر عرش مالک دی ، نشته حقدار د بنده ګی بې الله نه چه د اسمانونو او ځمکې مالک او مالک د عزتمند عرش دی.

78.﴿اللَّهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُو فَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ ، وَأَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ﴾ (أبو داود، ٥٠٩٠ )

**ژباړه**: يا الله ! زه ستا د رحمت اميدوار يم ، ما خپل نفس ته د سترګو د رپ په اندازه هم مه سپاره ، زما ټول حالات برابر کړه ، له تا پرته بل د بنده ګی حقدار نشته .

79.﴿اللَّهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوبِ صَرِّفْ قُلُوبَنَا عَلَى طَاعَتِكَ﴾ ( مسلم، برقم ٢٦٥٤)

**ژباړه**: يا الله ! ای د زړونو بدلونکيه ! زمونږ زړونه خپلې طاعت ته بدل کړه .

80.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ ابْنُ عَبْدِكَ ابْنُ أَمَتِكَ،نَاصِيَتِي بِيَدِكَ ، مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ ، عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ ، أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ،أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ،أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ،أَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ،أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيعَ قَلْبِي،وَنُورَ صَدْرِي،وَجَلَاءَ حُزْنِي،وَذَهَابَ هَمِّي﴾

(أحمد، ٣٩١/١، ٤٥٢، والحاكم، ٥٠٩/١)

**ژباړه**: يا الله ! زه ستا بنده (مريی) يم ، ستا د بنده (مريی) زوی يم ، ستا د وينځې زوی يم ، زما تندی (اختيار) ستا په لاس کې دی ، ستا حکم په ما چليږي ، زما په اړه دې هره فيصله په عدل ولاړه ده ،ستا په هر هغه نوم سره له تا نه سوال کوم چه تا خپل ځان پرې نوملی او يا د په خپل کتاب کې نازل کړی ، او يا د له خپل مخلوق نه چا ته ښودلی ، او يا د په خپل غيبي علم کې له ځان سره پټ ساتلی ، (پدې ټولو درنه سوال کوم) چه قرآن کريم مې د زړه پسرلی،دسينې روښنايي،د غمونو لرې کونکی او د پريشانيو ختمونکی وګرځوه .

81.﴿يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ﴾ ( الترمذي، برقم ٣٥٢٢، وأحمد، ١٨٢/٤، والحاكم، ٥٢٥/١، و٥٢٨)

**ژباړه**: ای د زړونو اړونکی (ربه) زما زړه په خپل دين کلک او مضبوط کړه .

82.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ[الْيَقِينَ]و [الْعَفْوَ] الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ﴾ (الترمذی، برقم ٣٥١٤ ،البخاري في الأدب المفرد، ٧٢٦)

**ژباړه**: يا الله ! له تا نه په دنيا او اخرت کې د يقين (ريښتيني ايمان) ، عفوې او عافيت سوال کوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

83.﴿اللَّهُمَّ أَحْسِنْ عَاقِبَتَنَا فِي الأُمُورِ كُلِّهَا ، وَأَجِرْنَا مِنْ خِزْيِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الآخِرَةِ﴾ (مسند أحمد، ١٧٦٢٨)

**ژباړه**:يا الله ! زمونږ د ټولو کارونو برخليک ښايسته کړه ، او مونږ د دنيا له ذلت او د آخرت له عذابه وساته .

84.﴿رَبِّ أَعِنِّي وَلَا تُعِنْ عَلَيَّ ، وَانْصُرْنِي وَلَا تَنْصُرْ عَلَيَّ ، وَامْكُرْ لِي وَلَا تَمْكُرْ عَلَيَّ ، وَاهْدِنِي وَيَسِّرِ الْهُدَى إِلَيَّ ، وَانْصُرْنِي عَلَى مَنْ بَغَى عَلَيَّ ، رَبِّ اجْعَلْنِي لَكَ شَكَّارًا ، لَكَ ذَكَّاراً ، لَكَ رَهَّابًا لَكَ مِطْوَاعًا ، إِلَيْكَ مُخْبِتًا أَوَّاهاً مُنِيبًا ، رَبِّ تَقَبَّلْ تَوْبَتِي ، وَاغْسِلْ حَوْبَتِي ، وَأَجِبْ دَعْوَتِي ، وَثَبِّتْ حُجَّتِي ، وَاهْدِ قَلْبِي ، وَسَدِّدْ لِسَانِي ، وَاسْلُلْ سَخِيمَةَ قَلْبِي﴾ (البخاري في الأدب المفرد، ٦٦٤)

**ژباړه** : يا الله ! له ما سره مرسته وکړه او زما په خلاف له چا سره مرسته مه کوه ، يا الله په دښمن مې برلاسی کړه او دښمن په ما مه برلاسی کوه ، يا الله ما ته تدبير جوړ کړه او زما په خلاف تدبير مه جوړوه ، يا الله ما ته هدايت وکړه او په دغه هدايت باندې عمل را ته اسانه کړه ،او چا چه په ما ظلم کړی په وړاندې يې زما مرسته وکړه ، ای ربه ! ما خپل شکر ويستونکی ، ډير ذکر کوونکی ، له تا ډير ويريدونکی ، ستا ډير پيروي کوونکی ، نرم زړه لرونکی ، تا ته توبه کوونکی انسان جوړ کړه ، ای ربه زما توبه قبوله کړه ، ګناه مې ومينځه ، دعا مې قبوله کړه ، دليل مې مضبوط کړه ، زړه ته مې لار ښوونه وکړه ، او ژبه مې (په حق ) برابره لره او کينه مې له زړه نه وباسه .

85.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ سَمْعِي ، وَ مِنْ شَرِّ بَصَرِي ، وَ مِنْ شَرِّ لِسَانِي ، وَ مِنْ شَرِّ قَلْبِي ، وَ مِنْ شَرِّ مَنِيِّي﴾ (أبو داود ١٥٥١)

**ژباړه** : يا الله ! زه په تا د خپلو غوږونو، سترګو، ژبې ، زړه او مَنيو (عورت) له شر نه پناه نيسم.

86.﴿اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا سَأَلَكَ مِنْهُ نَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ ﷺ ، وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا اسْتَعَاذَ مِنْهُ نَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ ﷺ ، وَأَنْتَ الْمُسْتَعَانُ ، وَعَلَيْكَ الْبَلَاغُ ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ﴾ (الترمذي برقم ، ٣٥٢١، وابن ماجه برقم، ٣٨٤٦)

**ژباړه**:يا الله ! زه له تا نه د هغو ټولو ښيګڼو غوښتنه کوم چه ستا نبي محمد ﷺ يې له تا نه غوښتنه کړې او له هغو ټولو بديو درنه پناه غواړم له کومو چه ستا نبي محمد ﷺ پناه غوښتې ،ته مرسته کوونکی او مقصد ته رسونکی يې،له ګناه نه اوښتل او په نيکيو عمل کول کول د الله له توفيقه پرته نه کيږي .

87.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبَرَصِ ، وَالْجُنُونِ وَالْجُذَامِ ، وَمِنْ سَيِّئِ الأَسْقَامِ﴾ (أبو داود برقم ، ١٥٥٤، والترمذي برقم، ٥٤٩٣)

**ژباړه** : يا الله ! زه په تا د پيس ، ليونتوب ، جذام او بدو مرضونو پناه نيسم .

88. ﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ مُنْكَرَاتِ الْأَخْلَاقِ ، وَالْأَعْمَالِ ، وَالْأَهْوَاءِ﴾ (الترمذي برقم ، ٣٥٩١، وابن حبان، برقم ٢٤٢٢ (موارد))

**ژباړه** : يا الله ! زه په تا پناه نيسم د اخلاقو ، اعمالو او خواهشاتو له بديو نه.

89.﴿اللَّهُمَّ إِنَّكَ عُفُوٌّ كَرِيمٌ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي﴾ (الترمذي برقم ، ٣٥١٣، والنسائي في الكبرى، برقم ٧٧١٢)

**ژباړه** : يا الله ! ته معافي کوںکی او کريم ذات يې او له معافی سره مينه لرې نو ما ته معافي وکړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

90.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ ، وَتَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ ، وَحُبَّ الْمَسَاكِينِ ، وَأَنْ تَغْفِرَ لِي ، وَتَرْحَمَنِي ، وَإِذَا أَرَدْتَ فِتْنَةَ قَوْمٍ فَتَوَفَّنِي غَيْرَ مَفْتُونٍ ، وَأَسْأَلُكَ حُبَّكَ ، وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ، وَحُبَّ عَمَلٍ يُقَرِّبُنِي إِلَى حُبِّكَ﴾ (أخرجه أحمد بلفظه، ٢٤٣/٥ والترمذي، ٣٢٣٥)

**ژباړه**: يا الله ! له تا نه د نيکيو د کولو ، د بديو د پريښودلو او له بي وزلو سره د ميني کولو توفيق غواړم ، (يا الله ) ما ته ببښنه وکړه او په ما رحم وکړه ، او(يا الله) کله چه د کوم قوم په فتنو کي د لويدو او امتحان اراده کوي نو زما روح له هغې مخکي قبض کړه ، يا الله خپله مينه او د خپلو دوستانو مينه او د هغو اعمالو سره مينه چه ستا مينه ته د نږديوالي سبب کيږي راته نصيب کړه.

91.﴿اللَّهُمَّ احْفَظنِي بالإِسْلامَ قائِماً ، واحْفَظنِي بالإِسْلامَ قاعِداً ، واحْفَظنِي بالإِسْلامَ راقِداً ، ولا تُشْمِتْ بِي عَدُوّاً ولا حاسِداً . اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ كُلِّ خَيْرٍ خزائِنُهُ بِيَدِكَ ، وأعُوذُ بِكَ مِنْ كُلِّ شَرٍّ خَزائِنُهُ بِيَدِكَ﴾

(الحاكم، ٥٥٢/١ وصححه الذهبي)

**ژباړه**: يا الله ته مي د ولاړي ، ناستي او خوب حالتونو کي د اسلام حفاظت وکړه ، او په حال ورځ مي هيڅ دښمن او کينه کښ مه خوشالوه ، يا الله له تانه د ټولو هغو ښيګڼو غوښتنه کوم چه خزاني يي ستا په لاس کي دي او تا ته له هغو ټولو بديو نه پناه نيسم چه خزاني يي ستا په لاس کي دي .

92.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنَ الْخَيْرِ كُلِّهِ عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الشَّرِّ كُلِّهِ عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ . اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا سَأَلَكَ عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ [مَا اسْتَعَاذَ بِكَ] [مِنْهُ] عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ. اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ ، وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ ، وَأَسْأَلُكَ أَنْ تَجْعَلَ كُلَّ قَضَاءٍ قَضَيْتَهُ لِي خَيْرًا﴾

(ابن ماجه، ٣٨٤٦، وأحمد، ١٣٤/٦)

**ژباړه**: يا الله ! زه له تا نه سوال کوم د ټولو ښيګڼو چه ژر راځي او يا وروسته راځي هغه که راته معلومي دي او يا راته ندي معلومي ، او پناه غواړم په تا سره د ټول شر نه هغه چه ژر ژر راځي او که وروسته راځي ، که پري پوهيږم او يا نه پوهيږم ، يا الله له تا نه د هغو ټولو ښيګڼو غوښتنه کوم چه له تا نه ستا بنده او نبي (محمد ﷺ) غوښتي او له تا نه د هغو ټولو بديو نه پناه غواړم له کومو چه ستا بنده او نبي (محمد ﷺ)پناه غوښتني ، يا الله له تا نه د جنت او د هغو اعمالو چه جنت د رسيدو سبب کيږي غوښتنه کوم او تا ته له اوره(جهنم) او هغو ټولو اعمالو نه چه جهنم ته د تګ سبب کيږي پناه نيسم او له تا نه سوال کوم چه زما لپاره د په تقدير کي کومي فيصلي ليکلي هغه زما په حق کي بهتري وګرځوه .

93.﴿اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي ، وَجَهْلِي ، وَإِسْرَافِي فِي أَمْرِي ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي هَزْلِي ، وَجِدِّي ، وَخَطَئِي ، وَعَمْدِي ، وَكُلُّ ذَلِكَ عِنْدِي﴾ (متفق عليه: البخاري، برقم ٦٣٩٨، ومسلم، برقم ٢٧١٩)

**ژباړه**: يا الله ! زما خطاګاني ، زما ناپوهي ، په معاملاتو کي مي زياتی او هغه ګناه راته معاف کړي چه تا ته زما نه ښه معلومه ده ، ای الله ! هغه ګناه چه ما يي د کولو اراده کړې وي ، هغه ګناه چه له ما نه په ټوکو کي شوي ، او هغه چه په ناپوهی کي را نه شوي ، هغه مي چه قصدي کړي زه ددغو ټول اقرار کوم نو راته معاف يي کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

94.﴿اللَّهُمَّ اقْسِمْ لَنَا مِنْ خَشْيَتِكَ مَا تَحُولُ بِهِ بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَعَاصِيكَ ، وَمِنْ طَاعَتِكَ مَا تُبَلِّغُنَا بِهِ جَنَّتَكَ ، وَمِنَ الْيَقِينِ مَا تُهَوِّنُ بِهِ عَلَيْنَا مَصَائِبَ الدُّنْيَا ، اللَّهُمَّ مَتِّعْنَا بِأَسْمَاعِنَا ، وَأَبْصَارِنَا ، وَقُوَّاتِنَا مَا أَحْيَيْتَنَا وَاجْعَلْهُ الْوَارِثَ مِنَّا ، وَاجْعَلْ ثَأْرَنَا عَلَى مَنْ ظَلَمَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى مَنْ عَادَانَا ، وَلَا تَجْعَلْ مُصِيبَتَنَا فِي دِينِنَا ، وَلَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا أَكْبَرَ هَمِّنَا ، وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا ، وَلَا تُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لَا يَرْحَمُنَا﴾ (الترمذي، برقم ٣٥٠٢، والحاكم، ٥٢٨/١)

**ژباړه**: يا الله دومره ويره د په مونږ پيرزو کړه چه زمونږ او زمونږ د ګناهونو ترمنځ پرې جداوالی راشي ، او د دومره طاعت توفيق راکړه چه ستا جنت ته پرې ورسو ، او دومره ايمان او يقين مو نصيب کړه چه د دنيا مصيبتونه مو پرې اسانه شي ،يا الله د اوريدو ، ليدلو او نورو طاقتونو نه فايده راکوه تر څو چه مو ژوندي ساتې او تر مرګه يې راسره لره ، او له هغه چا نه چه په مونږ يې ظلم کړی زمونږ غچ واخله ، او چا چې زمونږ سره د دښمني لیار نیولې په مقابل کې يې زمونږ مرسته وکړه ، او د دين په معامله کې په مونږ مصيبت مه راوله ، او دنيا مو ستر ارمان او دعلم هدف مه ګرځوه ، او پر مونږ هغه کس مه مسلط کوه چه راباندې رحم نه لري .

95.﴿اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ ، وَبِكَ آمَنْتُ ، وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ ، وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ ، وَبِكَ خَاصَمْتُ. اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِعِزَّتِكَ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَنْ تُضِلَّنِي ، أَنْتَ الْحَيُّ الَّذِي لَا يَمُوتُ ، وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ يَمُوتُونَ﴾ (متفق عليه: البخاري، ٦٣٩٨، ومسلم، ٢٧١٩)

**ژباړه**: يا الله ! تا ته مې غاړه ايښې ، په تا مې ايمان راوړی ، خاص په تا مې اعتماد کړی ،او ستا طرف ته مې رجوع کړې ، او خاص ستا لپاره له (بې دينه خلکو) سره جګړه کوم ،يا الله زه تا ته ستا په عزت پناه نيسم نشته بل لايق د عبادت مګر ته يې لدې نه چه بې لارې مې کړې ، ته هغه ژوندی ذات يې چه هيڅ کله مرګ درته نه راځي او حال دا چې پيريان او انسانان ټول مري .

96.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ ، وَأَعوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ ، وَأَعوذُ بِكَ مِنْ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ﴾ (البخاري برقم، ٢٨٢٢)

**ژباړه**: يا الله ! زه تا ته له بې زړه توبه پناه نيسم ، او ته مې له بخيلی نه وژغوره او له تانه د بوډاوالي (هغه عمر ته له رسيدو نه چه په ځای ولويږم او ذليله شم) پناه غواړم ، او تاته د دنيا له فتنې او د قبر له عذابه پناه دروړم .

97.﴿اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ ، وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ ، وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ ، وَ الْغَنِيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ ، وَالْفَوْزَ بِالْجَنَّةِ ، وَالنَّجَاةَ مِنَ النَّارِ﴾ (الحاكم، ٥٢٥/١، وصححه، ووافقه الذهبي، والبيهقي في الدعوات، برقم ٢٠٦)

**ژباړه**: يا الله ! له تا نه ستا د رحمت د اسبابو ، د ښښنې غوښتلو د قوي ارادې ، له هرې ګناه د لرې والي ، د هر نيک عمل د کولو توفيق ، جنت ته د رسيدلو او له اوره د نجات سوال کوم.

98. ﴿اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا ، وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ . فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ ، وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ﴾ (البخاري برقم : ٨٣٤، ومسلم برقم : ، ٢٧٠٩)

**ژباړه**: يا الله ! ما په خپل ځان ظلم کړی ډير زيات ظلم ، او ستا نه پرته څوک د ګناهونو ښښنه نه کوي ، نو ما ته ښښنه وکړه ، ښښنه له خپل طرف نه ، او په ما رحم وکړه په باوري توګه ته ښښونکی او مهربانه ذات يې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

99. ﴿اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ﴾ (الطبراني في الكبير،٢٠٢/٥، برقم ٥٠٩٢، و ٣٣٤/٣، وبرقم ٢١٥٥)

**ژباړه**: يا الله ! ته مؤمنو نارينه وو او مؤمنو ښځو ته بښنه وکړه .

100. ﴿اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي ، وَوَ سِّعْ لِي فِي دَارِي ، وَبَارِكْ لِي فِيمَا رَزَقْتَنِي﴾ (أخرجه أحمد، برقم ١٦٥٩٩، والترمذي، برقم ٣٥٠٠)

**ژباړه**: يا الله ! گناه مې راته وبښه ، په كور كې مې پراخي راوله ، او په روزي كې مې بركت واچوه .

101. ﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُك مِنْ فَضْلِكَ وَرَحْمَتِكَ فَإِنَّهُ لاَ يَمْلِكُهَا إِلاَّ أَنْتَ﴾ (أخرجه الطبراني)

**ژباړه**: يا الله ! له تا نه ستا د فضل او رحمت سوال كوم، په يقيني ډول د دوی ملكيت له تا پرته له بل چا سره نشته .

102. ﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُوعِ فَإِنَّهُ بِئْسَ الضَّجِيعُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخِيَانَةِ فَإِنَّهَا بِئْسَتِ الْبِطَانَةُ﴾ ( أأبو داود، ١٥٤٧)

**ژباړه**: يا الله! زه له تا نه له لوږې نه پناه غواړم ځكه لوږه تر ټولو بده خواري ده،او له خيانت نه درته پناه نيسم ځكه دا له بدو خويونو ډير بد خوی دی .

103. ﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الهَرَمِ ، وَالتَّرَدِّي ، وَالْهَدْمِ ، وَالْغَمِّ ، وَالْغَرَقِ ، وَالْحَرَقِ ، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ يَتَخَبَّطَنِي الشَّيْطَانُ عِنْدَ الْمَوْتِ ، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أَمُوتَ فِي سَبِيلِكَ مُدْبِرًا ، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أَمُوتَ لَدِيغًا﴾ (أبو داود برقم ، ١٥٢٢، ...)

**ژباړه**: يا الله ! زه له بوډوالي (د احتياج له ژونده) ، له اوچت ځای نه له راپريوتلو ، د چت لاندې كيدو ، غم او پريشانی ، غرقيدلو او سوځيدلو نه تاته پناه نيسم ، يا الله تا ته لدې هم پناه نيسم چه شيطان مې د ځنكدن په وخت كې خطا باسي ،او تا ته پناه دروړم لدې چه ستا په لار (جهاد كې )پداسې حال كې ووژل شم چه دښمن ته مې شا كړې وي ، او په تا سره (د زهري موجوداتو )د چيچلو له مرگ نه پناه نيسم .

104. ﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أعُوذُ بِكَ مِنَ العَجْزِ ، وَالكَسَلِ ، وَالجُبْنِ ، وَالبُخْلِ ، وَالهَرَمِ ، وَالقَسْوَةِ ، وَالغَفْلَةِ ، وَالعَيْلَةِ ، وَالذِّلَّةِ ، وَالمَسْكَنَةِ ، وَأعُوذُ بِكَ مِنَ الفَقْرِ ، وَالكُفْرِ، وَالفُسُوقِ ، وَالشِّقاقِ ، وَالنِّفاقِ ، وَالسُّمْعَةِ ، وَالرِّياءِ ، وَأعُوذُ بِكَ مِنَ الصَّمَمِ ، وَالبَكَمِ ، وَالجُنُونِ ، وَالجُذامِ ، وَالبَرَصِ ، وَسَيِّيءِ الأَسْقامِ﴾ (النسائي، ٥٤٩٣، والحاكم، ٥٣٠/١)

**ژباړه**: يا الله ! زه تا ته له ناتوانی ، لټی ، بې زړه توب ، بخيلی ، زړښت ، د زړه له سختی ، بې پروايی ، غريبی ، خواری ، بی چاره گی نه پناه نيسم، او (يا الله ) تا ته پناه نيسم له فقر ، كفر ، بدو كارونو ، بدبختی ، منافقت ، شيطانت او ځان ښوونې نه . او زه تا ته پناه نيسم له كوڼوالي ، گونگوالي ، ليونتوب ، جذام ، پيس او له ټولو بدو مرضونو نه .

105. ﴿اللّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْفَقْرِ ، [وَالْفَاقَةِ]،وَالْقِلَّةِ،وَالذِّلَّةِ ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ أَظْلِمَ أو أُظْلَمَ﴾ ( أبو داود، ١٥٤٤)

**ژباړه**: يا الله !زه له تا نه له غريبي بې وزلی ،(په دين او دنيا كې د وړتياوو )له كمښت ، (د دنيا او آخرت )له رسوايئ نه پناه غواړم ، او له تا نه (يا الله) لدې نه هم پناه غواړم چه يا د په چا ظلم وكړم او يا د ما په څوک ظلم وكړي .

106. ﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ جَارِ السُّوءِ فِي دَارِ الْمُقَامَةِ فَإِنَّ جَارَ الْبَادِيَةِ يَتَحَوَّلُ﴾ (البخاري في الأدب المفرد، برقم ١١٧)

**ژباړه**: يا الله ! د اوسيدو په ځای كې د بد گاونډی نه پناه غواړم ، د صحرا گاونډی خو بدليږي .

107. ﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ وَأَسْتَجِيْرُ بِكَ مِنَ النَّارِ﴾ (ثَلاَثَ مَرَّاتٍ) (أخرجه الترمذي برقم ، ٢٥٧٢، وابن ماجه برقم ، ٣٣٤٠، والنسائي، ٥٥٣٦)

**ژباړه**: يا الله له تا نه جنت ته د رسيدو سوال كوم ، او له تا د جهنم له اور نه پناه نيسم. (درې ځلې)

(c) ketabton.com: The Digital Library

108.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ قَلْبٍ لاَ يَخْشَعُ ، وَمِنْ دُعَاءٍ لاَ يُسْمَعُ ، وَمِنْ نَفْسٍ لاَ تَشْبَعُ ، وَمِنْ عِلْمٍ لاَ يَنْفَعُ ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ هُؤُلاَءِ الأَرْبَعِ﴾ (الترمذي، ٣٤٨٢، أبو داود، ١٥٤٩)

**ژباړه**: يا الله !زه په تا پناه نيسم له هغه زړه نه چه (له تا) ويره ونه لري ، له هغې دعا نه چه قبليږي نه ، له هغه نفس نه چه مړيږي نه ، او له هغه علم نه چه ګټه نه رسوي، (يا الله)په تا سره له دې څلورو وارړو پناه نيسم .

109.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ يَوْمِ السُّوءِ ، وَمِنْ لَيْلَةِ السُّوءِ ، وَمِنْ سَاعَةِ السُّوءِ ، وَمِنْ صَاحِبِ السُّوءِ ، وَمِنْ جَارِ السُّوءِ فِي دَارِ الْمُقَامَةِ﴾ (أخرجه الطبراني وقال الهيثمي في الزوائد، ١٠/١٤٤)

**ژباړه**: يا الله !زه له بدې ورځې ، خرابې شپې ،بد وخت،خراب ملګري او د اوسيدو په ځاى كې له بد ګاونډي نه تاته پناه نيسم.

110.﴿اللَّهُمَّ فَقِّهْنِي فِي الدِّينِ﴾ ( يدل عليه رواية البخاري ومسلم في دعاء النبى صلى الله عليه وسلم لابن عباس '. البخاري، برقم ١٤٣، ومسلم برقم، ٢٤٧٧)

**ژباړه**: يا الله ! د دين پوهه او علم مې نصيب كړه .

111.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أُشْرِكَ بِكَ وَأَنَا أَعْلَمُ ، وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لاَ أَعْلَمُ﴾ (رواه أحمد،٤/٤٠٣، وابن أبي شيبة، ١٠/٣٣٧)

**ژباړه**:يا الله!تا ته لدې پناه نيسم چه درسره پداسې حال كې شريک ومنم چه پوهيږم،او كه په ناپوهى كې مې له تا سره شريک ونيوى نو راته ببښنه وكړه.

112.﴿اللَّهُمَّ انْفَعْنِي بِمَا عَلَّمْتَنِي ، وَعَلِّمْنِي مَا يَنْفَعُنِي ، وَزِدْنِي عِلْمًا﴾ (أخرجه الترمذي، برقم ٣٥٩٩، وابن ماجه، برقم ٢٥٩)

**ژباړه**:يا الله ! ګټه راته ورسوه له هغه علم نه د چه راكړي او هغه علم رابانديې پيرزو كړه چه ګټه راته رسوي او زيات مې كړه علم .

113.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا ، وَرِزْقًا طَيِّبًا ، وَعَمَلًا مُتَقَبَّلًا﴾ (ابن ماجه،برقم ٩٢٥،والنسائي في عمل اليوم والليلة،برقم ١٠٢)

**ژباړه**: يا الله ! زه له تا نه د ګټور علم ، پاكې روزې او قبول شوى عمل سوال كوم .

114.﴿اللَّهُمَّ طَهِّرْنِي مِنَ الذُّنُوبِ وَالْخَطَايَا اللَّهُمَّ نَقِّنِي مِنْهَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ اللَّهُمَّ طَهِّرْنِي بِالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَالْمَاءِ الْبَارِدِ﴾ (مسلم برقم ٤٧٦، والنسائي ٤٠٠)

**ژباړه**: يا الله ! ته مې له ګناهونو او بديو نه پاک كړه ، يا الله ته مې ترې داسې پاک كړه لكه سپين ټوكر چه له خيرو نه پاكيږي ، يا الله ته مې پاک كړه (له ګناهونو)په واورې ګلې او يخو اوبو سره .

115. ﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ يَا أَللهُ بِأَنَّكَ الْوَاحِدُ الْأَحَدُ ، الصَّمَدُ ، الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ، وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ ، أَنْ تَغْفِرَ لِي ذُنُوبِي ، إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ﴾ (النسائي، ١٣٠٠، وأبو داود، برقم ٩٨٥)

**ژباړه**: اى الله ! زه له تا نه سوال كوم چه يا الله ته يواځې او يواځې بې نيازه ذات يې ، هغه چه نه له ده نه څوک پيدا دي او نه دى له چا نه پيدا دى ، او نشته هغه لره برابر او مثل هيڅوک ; ما ته مې ګناهونه وبښه ، يقيناً ته بښونكى او مهربانه ذات يې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

116. ﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّ لَكَ الْحَمْدَ ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ [وَحْدَكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ] الْمَنَّانُ [يَا] بَدِيعَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ ، يَا ذَا الْجَلالِ وَالإِكْرَامِ ، يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ إِنِّي أَسْأَلُكَ [الْجَنَّةَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ] ﴾ (أبو داود برقم ،١٤٩٥)

**ژباړه**: يا الله ! زه له تا نه سوال کوم په ربنتيا چه ټول حمدونه ستا لپاره دي ، نشته بل لايق د عبادت مګر ته يې ، ته يو يې شريک نه لري ، ته ډير احسان کونکی يې ، ای د اسمانونو او ځمکي بې مثاله پيدا کونکيه ، ای د اوچت شان او عزت والا ربه ، ای هميشه ژوندی او نظام چلونکيه ذاته ! زه له تا نه جنت ته د رسيدو او د جهنم له اوره د خلاصون سوال کوم .

117. ﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنِّي أَشْهَدُ أَنَّكَ أَنْتَ اللهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ ، الأَحَدُ الصَّمَدُ ، الَّذِي لَمْ يَلِدْ ، وَلَمْ يُولَدْ، وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ﴾ (أبو داود، برقم ٩٨٥، والترمذي، ٣٤٧٥)

**ژباړه**: يا الله ! زه له تا نه سوال کوم او زه ګواهي ورکوم چه په يقين سره ته الله يې ، نشته بل لايق دعبادت مګر ته يې ، ته يواځې ذات يې ، بې نيازه يې ، هغه ذات يې چه نه له چا زيږول شوی او نه تري څوک زيږيدلي او هغه ذات چه سيال او مثال يې نشته .

118. ﴿رَبِّ اغْفِرْ لِي ، وَتُبْ عَلَيَّ ، إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الْغَفُورُ﴾ ( أبو داود برقم، ١٥١٨، والترمذي، ٣٤٣٤، واللفظ له، والنسائي في الكبرى، ١٠٢٩٢)

**ژباړه**: يا الله ! ته را ته ښښنه وکړه ، او توبه مې قبوله کړه ، په يقين سره ته توبه قبلونکی او ښښونکی ذات يې.

119. ﴿اللَّهُمَّ بِعِلْمِكَ الْغَيْبَ ، وَقُدْرَتِكَ عَلَى الْخَلْقِ ، أَحْيِنِي مَا عَلِمْتَ الْحَيَاةَ خَيْرًا لِي ، وَتَوَفَّنِي إِذَا عَلِمْتَ الْوَفَاةَ خَيْرًا لِي ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَشْيَتَكَ فِي الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ، وَأَسْأَلُكَ كَلِمَةَ الْحَقِّ فِي الرِّضَا وَالْغَضَبِ ، وَأَسْأَلُكَ الْقَصْدَ فِي الْغِنَى وَالْفَقْرِ ، وَأَسْأَلُكَ نَعِيمًا لاَ يَنْفَدُ ، وَأَسْأَلُكَ قُرَّةَ عَيْنٍ لاَ تَنْقَطِعُ ، وَأَسْأَلُكَ الرِّضَا بَعْدَ الْقَضَاءِ ، وَأَسْأَلُكَ بَرْدَ الْعَيْشِ بَعْدَ الْمَوْتِ ، وَأَسْأَلُكَ لَذَّةَ النَّظَرِ إِلَى وَجْهِكَ ، وَالشَّوْقَ إِلَى لِقَائِكَ ، فِي غَيْرِ ضَرَّاءَ مُضِرَّةٍ ، وَلاَ فِتْنَةٍ مُضِلَّةٍ ، اللَّهُمَّ زَيِّنَّا بِزِينَةِ الإِيمَانِ ، وَاجْعَلْنَا هُدَاةً مُهْتَدِينَ﴾ (النسائي، برقم ١٣٠٥)

**ژباړه**: يا الله ! ستا د غيبو په علم او په مخلوق دې د برلاسي په وسيله (له تا نه سوال کوم) چه ما تر هغو ژوندی وساته چه ته پوهيږې ژوند زما په خير ده ، او هغه وخت مې مړ کړه چه پوهيږې مرګ را ته بهتره ده ، يا الله ! زه له تا نه په پټو او ښکاره حالتونه کې د ويرې سوال کوم ، يا الله له تا نه په خوښی او غوسه کې د حق ويلو توفيق غواړم.او له تا نه په مالداری او غريبی دواړو کې د ميانه روی سوال کوم ،او له تا نه د (جنت) د (هغو)نعمتونو غوښتنه کوم چه هيڅ ختميدا نه لري ، او ستا نه د سترګو (هغه) يخوالی غواړم چه نه پرې کيږي ، او له تا نه ستا په هرې فيصلې باندې د رضا کيدو سوال کوم ، او له تانه له مرګه وروسته د خوشاله ژوند سوال کوم ، او له تا نه ستا د مبارک مخ دليدلو د لذت اخيستو او له تا سره د ملاقات د مينې سوال کوم ، يا الله له داسې يو مشکل سره مې مه مخامخ کوه چه تاوان راته ورسوي او يا د په داسې امتحان کې پريوزم چه ګمراه مې کړي ، يا الله ته مو د ايمان په ښکلا ښايسته کړه او مونږ نه لارښودونکي او لار ښودل شوي (مؤمنان) جوړ کړه .

120. ﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ ، وَالْجُبْنِ ، وَسُوءِ الْعُمُرِ ، وَفِتْنَةِ الصَّدْرِ ، وَعَذَابِ الْقَبْرِ﴾ (النسائي برقم ٥٤٦٩)

**ژباړه**: يا الله ! له بخيلی ، بې زړه توبه ، له بيکاره عمره ، د سينه (زړه او نفس) له فساده او د قبر له عذابه تا ته پناه درورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

121.﴿اللَّهُمَّ ارزُقني حُبَّكَ ، وحُبَّ مَنْ يَنْفَعُني حُبُّهُ عندَك ، اللَّهُمَّ مَا رَزَقْتَني مِمَّا أُحِبُّ فَاجْعَلْهُ قُوَّةً لِي فِيمَا تُحِبُّ ، اللَّهُمَ مَا زَوَيْتَ عَنِّي مِمَّا أُحِبُّ فَاجْعَلْهُ فَرَاغاً لِي فِيمَا تُحِبُّ﴾ ( أخرجه الترمذي، برقم ٣٤٩١)

**ژباړه** : يا الله ! په ما د خپله مينه ، او د هغو خلکو سره مينه چه ستا په نزد يې دوستي ما ته ګټه رسوي پيرزو کړه . يا الله له هغو څيزونو د چه په ما پيرزو کړي او زه ورسره مينه لرم داسې يو قوت راوبښه چه زه پرې هغه اعمال وکړم چه تا ته خوښ دي ،يا الله هغه څيزونه چه ورسره مينه لرم او تا ترې محروم کړې يم ، د هغوى نه شتون راته د هغه کارونو د کولو لپاره موقع وګرځوي چه ته ورسره مينه لرې .

122.﴿ اللَّهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيلَ،وَ مِيكَائِيلَ ،وَ رَبَّ إِسْرَافِيلَ ، أَعُوذُ بِكَ مِنَ حَرِّ النَّارِ ،وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ﴾ (النسائي، ١٣٤٤)

**ژباړه** : يا الله ! اى د جبريل ، ميکايل او اسرافيل (ع)ربه ; زه تا ته د جهنم د اور له ګرموالي او د قبر له عذابه پناه دروړم .

123.﴿اللَّهُمَّ أَلْهِمْنِي رُشْدِي ، وَأَعِذْنِي مِنْ شَرِّ نَفْسِي﴾ (رواه الترمذي واللفظ له، ٥١٩/٥، برقم ٣٤٨٣، وأخرجه أحمد، ١٩٧/٢٣، برقم ١٩٩٩٢ )

**ژباړه** : يا الله ! خير او سعادت مې راته په زړه کې واچوې ، او د نفس له شر نه مې وساتې .

124.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لاَ يَنْفَعُ﴾ ( أخرجه النسائي في الكبرى، برقم ٧٨٦٧، وابن ماجه، برقم ٣٨٤٣ )

**ژباړه** : يا الله ! له تا نه د ګټور علم سوال کوم ، او تا ته له بې ګټې علم نه پناه نيسم .

125.﴿اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَوَاتِ [السَّبعِ] وَرَبَّ الْأَرْضِ ، وَرَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ، رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ ، فَالِقَ الْحَبِّ وَالنَّوَى ، وَمُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْفُرْقَانِ ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَيْءٍ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الْأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ ، وَأَنْتَ الْآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ ، وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ،وَأَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ ، اقْضِ عَنَّا الدَّيْنَ وَأَغْنِنَا مِنَ الْفَقْرِ﴾ (أخرجه مسلم برقم ٢٧١٣)

**ژباړه** : يا الله ! اى د اوو اسمانونو او ځمکې ربه ، د ستر عرش مالکه ، زموږ او د ټولو څيزونو پالونکيه ، د تخم او هډوکي زرغونوکيه ،او د تورات ، انجيل او فرقان نازلونکيه، له تا نه د هر هغه څيز له شر نه پناه غواړم چه تندى (اختيار) يې ستا په واک کې دى ، يا الله ته اول يې تر تا مخکې څه نشته ، او ته آخر يې او تر تا وروسته څه نشته ، ته (په يقيني دلايلو سره) ښکاره يې له تا نه زيات بل پورته (واقيعت) نشته ، او ته (د ذات په لحاظ ) له (نورو نه ) پټ يې له تا نه هيڅ شى پټ نه دى ، زموږ پور راته ادا کړه او له غريبى نه مو وساته .

126.﴿اللَّهُمَّ جَنِّبْنِي مُنْكَرَاتِ اَلْأَخْلَاقِ،وَالْأَهْوَاءِ،وَالْأَعْمَالِ ،وَالْأَدْوَاءِ﴾ (أخرجه الطبراني في المعجم الكبير، ١٩/١٩ برقم ٣٦)

**ژباړه** : يا الله ! له بيکاره اخلاقو ، نفسي او شهواني غوښتنو، بدو عملونو او خرابو مرضونو نه مې وساته .

127.﴿اللَّهُمَ قَنِّعْنِي بِمَا رَزَقْتَنِي ، وَبَارِكْ لِي فِيهِ ، وَاخْلُفْ عَلَيَّ كُلَّ غَائِبَةٍ لِي بِخَيْرٍ﴾ (أخرجه الحاكم، ٥٣٢/١، والبيهقي، ١٠٨٤)

**ژباړه** : يا الله ! په راکړل شوې روزي د قناعت را په برخه کړه ، او پکې برکت واچوه ، او هغه څه چه زما په اړه له تاسره خوندي دي هغه راته له خيره ډک وګرځوه .

128.﴿اللَّهُمَّ حَاسِبْنِي حِسَابَاً يَسِيرَاً﴾ ( رواه أحمد،٤٨/٦، والحاكم، ٢٥٥/١)

**ژباړه** : يا الله ! له ما سره حساب وکړه په اسانه حساب کولو سره .

(c) ketabton.com: The Digital Library

129. ﴿اللَّهُمَّ أَلِّفْ بَيْنَ قُلُوبِنَا ، وَأَصْلِحْ ذَاتَ بَيْنِنَا ، وَاهْدِنَا سُبُلَ السَّلَامِ ، وَنَجِّنَا مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ ، وَجَنِّبْنَا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ، وَبَارِكْ لَنَا فِي أَسْمَاعِنَا ، وَأَبْصَارِنَا ، وَقُلُوبِنَا ، وَأَزْوَاجِنَا ، وَذُرِّيَّاتِنَا ، وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ، وَاجْعَلْنَا شَاكِرِينَ لِنِعَمِكَ مُثْنِينَ بِهَا عَلَيْكَ ، قَابِلِينَ لَهَا ، وَأَتِمَّهَا عَلَيْنَا﴾ (أخرجه أبو داود، برقم ٩٦٩، والحاكم، واللفظ له ٢٦٥/١)

**ژباړه** : یا الله ! په زړونو کې مو یو بل ته مینه واچوه ، او زمونږ په منځ کې سوله راوله ، مونږ ته د سلامتیا لارې وښایه ، له تیارو نه مو د رڼا خواته وباسه ، او مونږ له ظاهري او باطني بې حیایئ نه وژغوره ، زمونږ په لیدلو ، اوریدلو، زړونو ، میرمنو او کورنیو کې برکت واچوه ، زمونږ توبه قبوله کړه  په یقیني ډول ته توبه قبلونکی او مهربانه یې ، او مونږ ستا د نعمت شکر گذاره (بنده کان) جوړ کړه ، د هغو یاده ونکي او اعتراف کونکی مو وگرځوه ، او خپل نعمت د را باندې تمام کړه .

130. ﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَسْأَلَةِ ، وَخَيْرَ الدُّعَاءِ ، وَخَيْرَ النَّجَاحِ وَخَيْرَ الْعَمَلِ ، وَخَيْرَ الثَّوَابِ ، وَخَيْرَ الْحَيَاةِ ، وَخَيْرَ الْمَمَاتِ ، وَثَبِّتْنِي وَثَقِّلْ مَوَازِينِي ، وَحَقِّقْ إِيمَانِي ، وَارْفَعْ دَرَجَاتِي وَتَقَبَّلْ صَلَاتِي ، وَاغْفِرْ خَطِيئَتِي ، وَأَسْأَلُكَ الدَّرَجَاتِ الْعُلَا مِنَ الْجَنَّةِ ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فَوَاتِحَ الْخَيْرِ ، وَخَوَاتِمَهُ ،وَجَوَامِعَهُ، وَأَوَّلَهُ ، وَظَاهِرَهُ ، وَبَاطِنَهُ ، وَالدَّرَجَاتِ الْعُلَا مِنَ الْجَنَّةِ آمِينْ ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا آتِي ، وَخَيْرَ مَا أَفْعَلُ ، وَخَيْرَ مَا أَعْمَلُ وَخَيْرَ مَا بَطَنَ ، وَخَيْرَ مَا ظَهَرَ وَالدَّرَجَاتِ الْعُلَا مِنَ الْجَنَّةِ آمِينْ ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ أَنْ تَرْفَعَ ذِكْرِي ، وَتَضَعَ وِزْرِي ، وَتُصْلِحَ أَمْرِي ، وَتُطَهِّرَ قَلْبِي ، وَتُحَصِّنَ فَرْجِي ، وَتُنَوِّرَ قَلْبِي ، وَتَغْفِرَ لِي ذَنْبِي وَأَسْأَلُكَ الدَّرَجَاتِ الْعُلَا مِنَ الْجَنَّةِ آمِينْ ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ أَنْ تُبَارِكَ فِي نَفْسِي ، وَفِي سَمْعِي ، وَفِي بَصَرِي ، وَفِي رُوحِي ، وَفِي خَلْقِي ، وَفِي خُلُقِي ، وَفِي أَهْلِي ، وَفِي مَحْيَايَ ، وَفِي مَمَاتِي ، وَفِي عَمَلِي ، فَتَقَبَّلْ حَسَنَاتِي ، وَأَسْأَلُكَ الدَّرَجَاتِ الْعُلَا مِنَ الْجَنَّةِ ، آمِينْ ﴾ (الحاكم عن أم سلمة مرفوعاً، ٥٢٠/١، والبيهقي في الدعوات، برقم ٢٢٥)

**ژباړه** : یا الله ! زه له تا نه سوال کوم د دعا غوښتلو د غوره طریقې ،او له تا نه د غوري دعا ، بهترینې کامیابي ، غوره عمل ،لوړ اجر ، ښکلی ژوند او عزتمند مرگ سوال کوم ، (یا الله )ما (د په خپل دین) ثابت قدمه کړه او زما تلې (د میزان ) درنې کړه ،زما ایمان محکم  کړه ، زما درجات اوچت کړه ، زما لمونځ قبول کړه او  گناهونو مې راته وبښه  ، او (یا الله ) له تا نه د جنت د لوړو درجو سوال کوم  ، یا الله ! زه له تا نه د خیر شروع پیلونکو ، د خیر سرته رسونکو ، د خیر د راټولوونکو د خیر اول ، د خیر آخر ، ښکاره خیر او پټ خیر او د جنت اوچت درجات غواړم . آمین ، یا الله زه له تا نه هغه خیر غواړم کوم ته چه راتگ کوم ، او زه یې (یو ځل کوم)  او د خیر د هغه عمل چه زه یې (همیشه) کوم ، او د هغه عمل  خیر چه پټ وي او هغه چه ښکاره وي او د جنت د اوچتو درجو سوال درنه کوم ، (آمین ) .یا الله ! زه له تا نه سوال کوم چه زما یاد اوچت کړه ، زما بوج لرې کړه ، چارې مې برابرې کړه ، زړه مې پاک کړه ، د عورت ساتنه مې وکړه ، زړه مې روښانه کړه ، گناه مې راته وبښه او (یا الله ) له تا نه د جنت د لوړو درجو (ته درسیدو) سوال کوم ،(آمین) ، یا الله ! له تا نه سوال کوم چه زما په نفس ، غوږونو ، سترگو ، روح ، څیره ، اخلاقو ، کورنۍ ، ژوند ، مرگ او عمل کې برکت واچوه ، نیک اعمال مې قبول کړه . او (یا الله ) له تا نه د جنت لوړو درجو (ته درسیدو) سوال کوم ،(آمین)

(c) ketabton.com: The Digital Library

131.﴿اللَّهُمَّ أَعِنَّا عَلَى ذِكْرِكَ ، وَشُكْرِكَ ، وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ﴾ (أخرجه أحمد، ٢٩٩/٢، والحاكم، ٤٩٩/١)

**ژباړه:** يا الله ! ستا د يادولو ،ستا د شكر ويستلو او ستا د ښايسته بنده ګۍ كولو توفيق راكړه .

132.﴿اللَّهُمّ إِنِّي أَسْأَلُكَ إِيمَانًا لاَ يَرْتَدُّ وَنَعِيمًا لاَ يَنْفَدُ وَ مُرَافَقَةَ مُحَمَّدٍ ﷺ فِي أَعْلَى جَنَّةِ الْخُلْدِ﴾ (ابن حبان (موارد)، ص ٦٠٤، برقم ٢٤٣٦)

**ژباړه:** يا الله ! د داسې ايمان سوال در نه كوم چه كفر ته يكې بيرته ګرځيدل نه وي ، داسې نعمتونه د را باندې پيرزو كړه چه نه ختميږي ،او (زما ربه ) له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په لوړو،تل پاتې جنتونو كې د ملتيا سعادت راوبښه .

133.﴿اللَّهُمَّ قِنِي شَرَّ نَفْسِي ، وَ اعْزِمْ لِي عَلَى أَرْشَدِ أَمْرِي ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا أَسْرَرْتُ ، وَ مَا أَعْلَنْتُ ، وَ مَا أَخْطَأْتُ ، وَ مَا عَمَدْتُ ، وَمَا عَلِمْتُ ، وَمَا جَهِلْتُ﴾ (النسائي في الكبرى، ٢٤٦/٦ برقم ١٠٨٣٠، والحاكم، ٥١٠/١ ، أحمد،٤٤٣/٤ )

**ژباړه:** يا الله ! د خپل نفس له شر نه مې وژغوره ، او ما ته د نيكو كارونو د كولو پوخ همت راكړه ، يا الله (د هغو ګناهونو ببښنه راته وكړه ) چه په پټه مې كړي په ښكاره مې كړي ، چه په خطا سره مې كړي ، چه قصداً مې كړي ، هغه چه مې له پوهې سره كړي او هغه مې چه په ناپوهى كړي .

134.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ ، وَغَلَبَةِ الْعَدُوِّ ، وَشَمَاتَةِ الأَعْدَاءِ﴾ ( أخرجه النسائي، برقم ٥٤٧٥، وأحمد ١٧٣/٢)

**ژباړه:** يا الله !د پور له زياتوالي ،د دښمن له غلبې او په حال و ورځ مې د ښمنانو له خوشالى نه تاته پناه دروړم.

135.﴿اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ، وَاهْدِنِي ، وَارْزُقْنِي وَعَافِنِي أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ ضِيقِ الْمَقَامِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ (النسائي،برقم ١٦١٧)

**ژباړه:** يا الله ! ګناهونه مې راته وبښه ، لاربښونه راته وكړه او له ناروغيو او بلاګانو نه مې وساته ، (او يا) الله (تا) ته د قيامت د ورځې د ځاى له تنګوالي نه پناه دروړم .

136.﴿اللَّهُمَّ مَتِّعْنِي بِسَمْعِي ، وَ بَصَرِي ، وَاجْعَلْهُمَا الْوَارِثَ مِنِّي ، وَانْصُرْنِي عَلَى مَنْ يَظْلِمُنِي ، وَ خُذْ مِنْهُ بِثَأْرِي﴾ (الترمذي، ٣٦٨١)

**ژباړه:** يا الله ! د اوريدو او ليدو له راكړو نعمتونو نه مې ګټه راته رسوه او تر آخره مې ترې مه محرومو ه ، او (يا الله) چا چه په ما ظلم كړى د هغه په وړاندې مې مرسته وكړه او زما غچ او انتقام ترې واخله .

137.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِيشَةً نَقِيَّةً ، ومِيتَةً سَوِيَّةً ، ومَرَدًّا غَيْرَ مُخْزٍ ولا فاضِحٍ﴾ (أخرجه الحاكم،٥٤١/١، والطبراني ، ١٤٣٥)

**ژباړه:** يا الله!له تا نه د پاک ژوند او عزتمند مرګ دعا غواړم،او ستا خواته دداسې درګرځيدو سوال كوم چه نه سپک او نه رسوا شم.

138.﴿اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي ، وَاهْدِنِي وَعَافِنِي ، وَارْزُقْنِي [وَاجْبُرْنِي ، وَارْفَعْنِي]﴾ (مسلم، ٢٦٩٦ أبي داود، ٨٥٠)

**ژباړه:** يا الله ! ببښنه راته وكړې ، په ما رحم وكړې ، هدايت راته وكړې ، كمى مې پوره كړې ، عافيت راته نصيب كړې او مقام مې اوچت كړې .

139.﴿اللَّهُمَّ أَحْسَنْتَ خَلْقِي فَأَحْسِنْ خُلُقِي﴾ (أخرجه أحمد،٦٨/٦، و١٥٥، ٤٠٣/١، وابن حبان (٢٤٢٣،موارد)،والطيالسي،٣٧٤، ومسند أبي يعلى، ٥٠٧٥)

**ژباړه:** يا الله ! لكه څرنګه د چه زما شكل او صورت ښكلى پيدا كړى ، همداسې مې اخلاق هم ښايسته كړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

140. ﴿اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ كُلُّهُ ، اللَّهُمَّ لاَ قَابِضَ لِمَا بَسَطْتَ ، وَلاَ بَاسِطَ لِمَا قَبَضْتَ ، وَلاَ هَادِيَ لِمَنْ أَضْلَلْتَ ، وَلاَ مُضِلَّ لِمَنْ هَدَيْتَ ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ ، وَلاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ ، وَلاَ مُقَرِّبَ لِمَا بَاعَدْتَ وَلاَ مُبَاعِدَ لِمَا قَرَّبْتَ ، اللَّهُمَّ ابْسُطْ عَلَيْنَا مِنْ بَرَكَاتِكَ ، وَرَحْمَتِكَ ، وَفَضْلِكَ ، وَرِزْقِكَ ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ النَّعِيمَ الْمُقِيمَ الَّذِي لاَ يَحُولُ وَلاَ يَزُولُ ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ النَّعِيمَ يَوْمَ الْعَيْلَةِ ، وَالأَمْنَ يَوْمَ الْخَوْفِ ، اللَّهُمَّ إِنِّي عَائِذٌ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا أَعْطَيْتَنَا وَشَرِّ مَا مَنَعْتَنَا ، اللَّهُمَّ حَبِّبْ إِلَيْنَا الإِيمَانَ وَزَيِّنْهُ فِي قُلُوبِنَا ، وَكَرِّهْ إِلَيْنَا الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ ، وَاجْعَلْنَا مِنَ الرَّاشِدِينَ ، اللَّهُمَّ تَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ ، وَأَحْيِنَا مُسْلِمِينَ ، وَأَلْحِقْنَا بِالصَّالِحِينَ غَيْرَ خَزَايَا وَلاَ مَفْتُونِينَ ، اللَّهُمَّ قَاتِلِ الْكَفَرَةَ الَّذِينَ يُكَذِّبُونَ رُسُلَكَ،وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِكَ وَاجْعَلْ عَلَيْهِمْ رِجْزَكَ وَعَذَابَكَ ، اللَّهُمَّ قَاتِلْ كَفَرَةَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَهَ الْحَقِّ [آمِينْ]﴾ (أحمد ١٥٤٩٢ و البخاري ٦٩٩)

**ژباړه**: يا الله ! ټول حمدونه او ثناوې ستا لپاره دي ، يا الله هغه چه تا خواره کړي د هغو بيرته راټولونکی او هغه چه تا را ټول کړي د هغه بيرته خورونکی نشته ، هغه چه تا گمراه کړي څوک يې هدايت کولی نشي ، او هغه د چه هدايت کړې څوک يې بې لارې کولی نشي ، هغه د چه محروم کړي څوک څه ورکولی نشي ، او هغوی ته چه د ورکړه کړې څوک يې ترې اخيستلی نشي . هغه د چه (له خپل درباره) رټلي د هغو څوک نږدې کونکی نشته هغه د چه نږدې کړي څوک يې لرې کولی نشي ، يا الله په مونږ د خپل برکتونه ، رحمتونه ، مهرباني او روزي خوره کړه ، يا الله ستا هغه تل پاتې نعمتونه درنه غواړو چه نه بدلون مومي او نه پای لري ، يا الله د بې وزلی په ورځ دي د نعمت، او د ويرې په ورځ دې د امن سوال درنه کوم ، يا الله د هغه څه له شر نه د چه راکړي او يا د ترې محروم کړی يم تا ته پناه نيسم ، يا الله له ايمان سره مينه راکړه او هغه راته په زړه پورې وگرځوه ، او له کفر ، گناهونو او سرکشيو نه مو زړونه تور کړه او مونږ له ليار موندنکو نه وگرځوه ، يا الله مونږ ته د مسلمانانو مرگ نصيب کړه او بيرته مو د مسلمانانو په توگه کې راژوندي کړه او (د قيامت په ورځ مو) له هغو نيکو خلکو سره يوځای کړه چه نه سپک شوي او نه په فتنو کې لويدلي وي ، يا الله هغه کفار مړه کړه چه ستا رسولان يې دروغجن گڼلي ، او ستا له لارې خلک اړوي او په هغوی د خپل آفت او عذاب نازل کړه ، يا الله ای په حق خدايه هغه کفار تباه کړه چه کتاب ورکړل شوی .[آمين]

141. ﴿اللَّهُمَّ زِدْنَا وَلَا تَنْقُصْنَا ، وَأَكْرِمْنَا وَلَا تُهِنَّا ، وَأَعْطِنَا وَلَا تَحْرِمْنَا ، وَآثِرْنَا وَلَا تُؤْثِرْ عَلَيْنَا وَأَرْضِنَا وَارْضَ عَنَّا﴾ (الترمذي برقم ، ٣١٧٣)

**ژباړه**: يا الله ! (پر) مونږ (د نعمتونه)زيات کړه او له مونږ نه يې مه کموه ، مونږ عزتمند کړه او مه مو سپکوه ،په مونږ خپله لورينه وکړه او مونږ مه محرومه ،مونږ تر نورو غوره کړه او نورو ته په مونږ ترجيح مه ورکوه ، له مونږ نه راضي شه ، او مونږ هم راضي (خوشاله) کړه .

142. ﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْفِرْدَوْسَ أَعْلَى الْجَنَّة﴾ (مأخوذ من قول النبی ص((... فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللهَ فَاسْأَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ...، البخاري، برقم ٢٧٩٠، ورقم ٧٤٢٣)

**ژباړه**: يا الله ! له تا نه د تر ټولو غوره جنت ، فردوس سوال کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

143. ﴿اللَّهُمَّ بِعِلْمِكَ الْغَيْبَ ، وَقُدْرَتِكَ عَلَى الْخَلْقِ ، أَحْيِنِي مَا عَلِمْتَ الْحَيَاةَ خَيْرًا لِي ، وَتَوَفَّنِي إِذَا عَلِمْتَ الْوَفَاةَ خَيْرًا لِي ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَشْيَتَكَ فِي الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ، وَأَسْأَلُكَ كَلِمَةَ الْحَقِّ فِي الرِّضَا وَالْغَضَبِ ، وَأَسْأَلُكَ الْقَصْدَ فِي الْغِنَى وَالْفَقْرِ ، وَأَسْأَلُكَ نَعِيمًا لاَ يَنْفَدُ ، وَأَسْأَلُكَ قُرَّةَ عَيْنٍ لاَ تَنْقَطِعُ ، وَأَسْأَلُكَ الرِّضَا بَعْدَ الْقَضَاءِ ، وَأَسْأَلُكَ بَرْدَ الْعَيْشِ بَعْدَ الْمَوْتِ ، وَأَسْأَلُكَ لَذَّةَ النَّظَرِ إِلَى وَجْهِكَ ، وَالشَّوْقَ إِلَى لِقَائِكَ ، فِي غَيْرِ ضَرَّاءَ مُضِرَّةٍ ، وَلاَ فِتْنَةٍ مُضِلَّةٍ ، اللَّهُمَّ زَيِّنَّا بِزِينَةِ الإِيمَانِ ، وَاجْعَلْنَا هُدَاةً مُهْتَدِينَ﴾ (النسائي، برقم ١٣٠٥ ، وأحمد،٤/٢٦٤ )

**ژباړه**: يا الله ! ستا د غيبو په علم او په مخلوق دې د برلاسي په وسيله (له تا نه سوال کوم) چه ما تر هغو ژوندی وساته چه ته پوهيږې ژوند زما په خير ده ، او هغه وخت مې مړ کړه چه پوهيږې مرگ را ته بهتره ده ، يا الله ! زه له تا نه په پټو او ښکاره حالتونه کې د ويرې سوال کوم ، يا الله له تا نه په خوښی او غوسه کې د حق ويلو توفيق غواړم.او له تا نه په مالداری او غريبی دواړو کې د ميانه روی سوال کوم ،او له تا نه د (جنت) د (هغو)نعمتونو غوښتنه کوم چه هيڅ ختميدا نه لري ، او ستا نه د سترگو (هغه) يخوالی غواړم چه نه پرې کيږي ، او له تا نه ستا په هرې فيصلې باندې د رضا کيدو سوال کوم ، او له تانه له مرگه وروسته د خوشاله ژوند سوال کوم ، او له تا نه ستا د مبارک مخ دليدلو د لذت اخيستو او له تا سره د ملاقات د مينې سوال کوم ، يا الله له داسې يو مشکل سره مې مه مخامخ کوه چه تاوان راته ورسوي او يا د په داسې امتحان کې پريوزم چه گمراه مې کړي ، يا الله ته مو د ايمان په ښکلا ښايسته کړه او مونږ نه لارښودونکي او لار ښودل شوي (مؤمنان) جوړ کړه .

144. ﴿اللَّهُمَّ ثَبِّتْنِي وَاجْعَلْنِي هَادِياً مَهْدِيًّا﴾ (دلّ عليه دعاء النبى صلى الله عليه وسلم لجرير رضى الله عنه . انظر: البخاري، برقم ٦٣٣٣، وكذلك بأرقام ٣٠٢٠، ٣٠٣٦،)

**ژباړه**: يا الله ! ما دې د دين په لاره کې ثابته قدمه ولره ، او ما هدايت کونکی (چه نور ستا د دين لارې ته راوبلم) او هدايت شوی (چه خپله هم ستا په لار برابر وم ) جوړ کړه .

145. ﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الثَّبَاتَ فِي الْأَمْرِ، وَالْعَزِيمَةَ عَلَى الرُّشْدِ ، وَأَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ ، وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ ، وَأَسْأَلُكَ شُكْرَ نِعْمَتِكَ، وَحُسْنَ عِبَادَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ قَلْباً سَلِيماً، وَلِسَاناً صَادِقاً، وَأَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا تَعْلَمُ ، وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا تَعْلَمُ ، إِنَّكَ أَنْتَ عَلاَّمُ الْغُيُوبِ﴾ (أحمد،٢٨/٣٣٨، برقم ١٧١١٤، و ٢٨/٣٥٦، برقم ١٧١٣٣)

**ژباړه**: يا الله ! له تا نه په اسلام د ثابت قدمی او د نيکي کولو د قوي ارادي سوال کوم ،او (يا الله ) له تا نه ستا د نعمتونو د شکر ويستو او ښه عبادت کولو توفيق غواړم ، او له تا نه د روغ زړه او رښتيني ژبې سوال کوم ، (يا الله ) له تا نه د هغو ښيگڼو دعا غواړم چه ته پرې پوهيږې او له هغو ټولو بديو نه پناه غواړم چه تا ته معلومې دي ، او (يا الله ) د هغو گناهونو ښښنه درنه غواړم چه ته پرې خبر يې ، يقيناً ته په پټو ځيزونو ډير پوه يې .

146. ﴿اللَّهُمَّ جَدِّدِ الإِيْمَانَ فِي قَلْبِي﴾ (مقتبس من حديث عبد الله بن عمر رضي الله عنهما))، الحاكم، ١/ ٤، ، وقال الهيثمي في مجمع الزوائد، ١/ ٥٢)

**ژباړه**: يا الله ! ايمان مې په زړه کې تجديد (بيا جوړ) کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

147.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ صَلَاةٍ لَا تَنْفَعُ﴾ (أبو داود، برقم ١٥٤٩)

**ژباړه**: یا الله ! له هغه لمانځه او دعا نه چه راته ګټه نه رسوي تاته پناه دروړم.

148.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ جَارِ السُّوءِ ، وَمِنْ زَوْجٍ تُشَيِّبُنِي قَبْلَ الْمَشِيبِ ، وَمِنْ وَلَدٍ يَكُونُ عَلَيَّ رَبّاً ، وَمِنْ مَالٍ يَكُونُ عَلَيَّ عَذَاباً ، وَمِنْ خَلِيلٍ مَاكِرٍ عَيْنُهُ تَرَانِي ، وَقَلْبُهُ يَرْعَانِي ، إِنْ رَأَى حَسَنَةً دَفَنَهَا وَإِذَا رَأَى سَيِّئَةً أَذَاعَهَا﴾ (الطبراني في الدعاء، ٣/ ١٤٢٥ برقم ١٣٣٩)

**ژباړه**: یا الله ! تا ته پناه دروړم له ناکاره ګاونډي نه ، له هغې ښځې نه چه له بوډاوالي مې مخکې بوډا کړي ، له هغه بچي نه چه په ما امر کونکی جوړ شي ، له هغه مال نه چه ما باندې عذاب جوړ شي او له هغه مکار دوست نه چه سترګې ما ته وي او زړه يې راته په تاک کې وي ، کله چه زما نیکی ویني نو سترګې پرې پټوي او کله چه مې بدی  ویني نو هغه (خلکو) ته ښکاره کوي .

149.﴿اللَّهُمَّ لَا تُخْزِنِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ (أحمد في المسند، ٢٩/ ٥٩٦، برقم ١٨٠٥٦ ، وأخرجه الطبراني في المعجم الكبير، ٣/ ٢٠، برقم ٢٥٢٤)

**ژباړه**: یا الله ! د قیامت په ورځ مې مه رسوا کوه .

150.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْمُعَافَاةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ﴾ (ابن ماجه، برقم ٣٨٥١)

**ژباړه**: یا الله!له تا نه سوال کوم چه په دنیا او آخرت کې مې د خلکو له ضرر او احتیاجه او خلک زما له ضرر او احتیاجه وساته .

151.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ وَعَمَلٍ لَا يُرْفَعُ وَقَلْبٍ لَا يَخْشَعُ وَقَوْلٍ لَا يُسْمَعُ﴾ (ابن حبان، ٢٤٤٠)

**ژباړه**: یا الله ! تا ته پناه نیسم له هغه علم نه چه راته ګټه نه رسوي ، له هغه عمل نه چه ستا خواته نه پورته کیږي ، له هغه زړه نه چه له تا نه ویره پکې نه وي او له هغه ذکر او دعا چه قبلیږي نه .

152.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ ، وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ ، وَالْبُخْلِ وَالْجُبْنِ ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ ، وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ﴾ (البخاري، ٦٣٦٣)

**ژباړه**: یا الله ! په تا سره د پریشانی ، غم ، کمزورۍ ، لټی ، بخل ، بزدلی د پور له بوجه او د خلکو له غلبې نه پناه نیسم .

153.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ النَّارِ  وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجالِ﴾ (مسلم، برقم ٢٨٦٧)

**ژباړه**: یا الله ! تا ته د جهنم له اور نه پناه نیسم ، او له تا نه پناه غواړم د قبر له عذابه ، او تا ته پناه نیسم له فتنو  نه که هغه پټې او یا ښکاره دي ، او له تا نه پناه غواړم د دجال له فتنې نه .

154.﴿اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَوْقَ كَثِيرٍ مِنْ خَلْقِكَ مِنَ النَّاسِ ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي ، وَأَدْخِلْنِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُدْخَلاً كَرِيمًا﴾ (البخاري، برقم ٤٣٢٣، ومسلم، برقم ٢٤٩٨، وهو مقتبس من دعاء النبي ص لعُبَيْدٍ أبي عامر، و لأبي بردة رضی الله عنهم )

**ژباړه**: یا الله ! ببښنه راته وکړه ، یا الله د قیامت په ورځ مې له ډیرو خلکو لوړه مرتبه نصیب کړه ، یا الله ګناه مې راته وبښه ، او د قیامت په ورځ مې د عزت ځای (جنت) ته داخل کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

155.﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ شَهَادَةً فِي سَبِيلِكَ﴾ (مسلم، ١٩٠٩، مقتبس من قوله ص: ((مَنْ سَأَلَ اللَّهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ بَلَّغَهُ اللَّهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ، وَإِنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ)

**ژباړه**: يا الله ! له تا نه ستا په لاره کې د شهادت سوال کوم .

156.﴿اللَّهُمَّ اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ ، وَعَافِنِي فَيْمَنْ عَافَيْتَ، وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ ، وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ وَقِنِي شَرَّ مَا قَضَيْتَ فَإِنَّكَ تَقْضِي وَلا يُقْضَى عَلَيْكَ ، وَإِنَّهُ لاَ يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ ، وَ لَا يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ ، تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ﴾ (أحمد في المسند، ٣/ ٢٤٩، ١٧٢٣)

**ژباړه**: يا الله ! د هغو کسانو له ډلې چه تا ورته هدايت کړى ما ته هم هدايت وکړه ، او د هغو کسانو په جمله کې چه تا ورته عافيت ورکړى ما ته هم عافيت وکړه ، او د هغو کسانو په جمله کې چه تا محفوظ کړي ما هم محفوظ کړه ، او څه د چه راکړي برکت پکې واچوه ، او څه چه تا فيصله کړي د هغو له شره مې وساته ځکه همدا ته فيصله کونکی يې او ستا د حکم ځوک دفعه کونکی نشته ، په رښتيا چه ته له چا سره دوستي وکړې هغه به خوار نشي ، او له چا سره چه دښمني وکړې هغه به عزتمند نه شي ، ته مبارک ذات او د لويي ښتن يې زمونږ پروردګاره !

157.﴿رَبِّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ﴾ (مسلم، برقم ٢١٤)

**ژباړه**: يا الله ! د قيامت په ورځ مې د ګناه بښنه راته وکړه .

158.﴿أَسْتَغْفِرُ اللهَ العَظِيمَ الَّذِي لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ ، الحَيُّ القَيُّومُ ، وَأَتُوبُ إِلَيهِ﴾ (الترمذي، برقم ٣٥٧٧)

**ژباړه**: له هغو لوی او عظمت لرونکی الله نه بښنه غواړم چه بې له هغه نه بل د عبادت وړ معبود نشته ، تل ژوندی دی ، (د کايناتو) تدبير کونکی دی ، او زه هغه ته توبه وباسم .

159.﴿اللَّهُمَّ أَحْيِنِي عَلَى سُنَّةِ نَبِيِّكَ ﷺ وَ تَوَفَّنِي عَلَى مِلَّتِه وَأَعِذْنِي مِنْ مُضِلاَّتِ الْفِتَنِ﴾ (أخرجه البيهقي ٥/ ٩٥)

**ژباړه**: يا الله ! ستا د نبی صلی الله عليه وسلم د سنتو مطابق ژوند مې نصيب کړه ، او د هغه د امتي  مرګ راکړه ، او له ګمراه کونکو فتنو نه مې وساته .

160.﴿اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي ، وَأَذْهِبْ غَيْظَ قَلْبِي ، وَأَعِذْنِي مِنْ مُضِلاتِ الْفِتَنِ﴾ (أخرجه ابن السني ، برقم ٤٥٧)

**ژباړه**: يا الله ! ګناه مې راته وبښه ، د زړه غوسه مې بهر کړه ، او له ګمراه کونکو فتنو نه مې وساته .

161.﴿ أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ ، مِنْ غَضَبِهِ وشَرِّ عِبادِهِ ، ومِنْ هَمزاتِ الشَّياطِينِ وأَن يَحْضُرونِ ﴾ (ابوداوود : 3839)

**ژباړه**: د الله په  پوره کلمو : د هغه له غوسې ، د هغه  بنده ګانو له شر او د شيطانانو له وسوسو او حاضريدلو نه پناه غواړم.

162.﴿اللَّهُمَّ مَتِّعْنِي بِسَمْعِي،وَبَصَرِي ،وَاجْعَلْهُمَا الْوَارِثَ مِنِّي ،وَانْصُرْنِي عَلَى عَدُوِّيْ ،وَ اَرِنِیْ مِنْهُ ثَأْرِي﴾ (صحيح الادب المفرد : 650)

**ژباړه**: يا الله ! د اوريدو او ليدو له راکړو نعمتونو نه مې ګټه راته رسوه او تر آخره مې ترې مه محرومو‌ه ، او د ښمن  په مقابله کې مې مرسته وکړه  او له هغه مې غچ او انتقام  راباندې وګوره .

163.﴿سُبْحَانَکَ لا إِلَهَ إِلا أَنتْ،إِنِّي قَدْ ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي،فَإِنَّهُ لا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلا أَنْتَ﴾(ابوداوود : 2602 )

**ژباړه**: (يا الله) پاکي ده تا لره نشته بل لايق د عبادت مګر ته يې ، ما پخپل ځان ظلم کړی نو ما ته مې د ګناهونو بښنه وکړې ، چه بې له تا نه ځوک ګناه نشي ښنلای .

(c) ketabton.com: The Digital Library

164. ﴿ اللَّهمَّ إِني أَسألُكَ صِحَّةً فِي إيمانٍ، وَإيماناً فِي حُسنِ خُلق، وَنَجَاحَا يَتْبَعُه فَلاحُ، وَرحمَةً مِنْك وعَافِيَةً، وَمَغْفِرةً مِنْكَ وَرِضواناً ﴾ (المستدرک 1962 . المعجم الكبير رقم : 717)

**ژباړه:** (يا الله) زه له تا نه د ايمان په حالت کې صحت غواړم او په ښايسته اخلاقو کې ايمان او داسې کاميابي چه په هغې پسې د مقصد پوره والى وي او له تا نه د عافيت ، ښښنې او راضي کيدو سوال کوم .

165. ﴿ اللَّهمَّ اغْفِرْ لنا ذُنُوبَنا وَظُلمَنا وَهزْلَنا وَجِدَّنا وَعَمْدَنا وكلُّ ذلِكَ عِنْدَنا اللَّهمَّ إِنِّي أعوذُ بِكَ مِن غَلَبَةِ الدَّينِ وَغَلَبَةِ الْعِبادِ وشَماتَةِ الأعداءِ ﴾ (المستدرک 1959. الطبرانی في الدعا : 1794)

**ژباړه:** يا الله مونږ ته مو گناهونه ، زياتى ، زمونږ په رښتيا ، په ټوقو او په قصدي ډول د شويو گناهونو ښښنه وکړه دا ټولې مونږ کړي ، يا الله د پور او بنده گانو له غلبې او په حال ورځ مې د دښمنانو له خوښى نه تاته پناه در وړم .

166. ﴿اللَّهُـمَّ صَـلِّ عَـلَى مُحَمَّـدٍ ، وَعَـلَى آلِ مُحَمَّـدٍ كَـمَا صَـلَّيْتَ عَـلَى إِبْـرَاهِيمَ ، وَعَـلَى آلِ إِبْـرَاهِيمَ ، إِنَّـكَ حَمِيـدٌ مَجِيـدٌ ، وَبَـارِكْ عَـلَى مُحَمَّـدٍ ، وَعَـلَى آلِ مُحَمَّـدٍ ، كَـمَا بَارَكْـتَ عَـلَى إِبْـرَاهِيمَ ، وَعَـلَى آلِ إِبْـرَاهِيمَ ، إِنَّـكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ﴾ (البخاري،٣٣٧٠، مسلم، ٤٠٥)

**ژباړه:** يا الله پر محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه په كورنى رحمت وليږه ، لکه په ابراهيم عليه السلام او د ابراهيم عليه السلام په کورنى د چه رحمت ليږلي وو . بيشكه ته ستايلى شوى د لوړ شان خاوند يې ، يا الله ! پر محمد صلى الله عليه وسلم او د محمد صلى الله عليه وسلم په كورنى بركت نازل کړه ،لکه په ابراهيم عليه السلام او د ابراهيم عليه السلام په كورنى د چه نازل کړي وو ، بيشكه ته ستايلى شوى د لوړ شان خاوند يې .

والحمد لله رب العالمين ، كما يليق بجلاله ، وعظيم سلطانه ، اللهم صلِّ وسلِّم على نبينا محمد ، وعلى آله ، وأصحابه وأتباعه بإحسان إلى يوم الدين.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**